# Daily Wahdat -Peshawar

## ورځپاڼه وحدت - پېښور

بنسټ اېښودونکی: پیر سید سفید شاه همدرد   ذمه وار: سید هارون شاه

د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند او د پښتون قامي وحدت په اړوند خپرې شوې لیکنې

ورځپانه   بانی: پیر سید سفید شاه همدرد
وحدت
ایڈیٹر: سید ہارون شاه
پیښور

یکشنبه (اتوار)، 21 جمادی الثانی، 1422 هـ ق، 18 اسنبله، 1380 هـ ش
9 ستمبر 2001، 26 بادرو، 2058 ب، جلد 26، شماره 246 بیعه 4 روپی

# قامي وحدت زمونږ قانوني او ائيني حق دے، افضل خان

## پښتون قام يو غاصب قوت ويشلے دے او ددغه غاصب داعمل قانوني بنه نه لري. افغان چې هرچرته وي يو قام دے

## دپاکستان او افغانستان حکومتونه دې دډيورنډ دکرښې دواړو غاړو پرتو افغانانو ته بغير د کاغذونو دتګ راتګ اجازه ورکړي

## دافغانستان موجوده مسئله له دې امله پيدا شوه چې پښتون قام ملي وحدت نه محروم و، بلجيم کښې جرګې ته خطاب

ګنټ (وحدت خبريال) قامی وحدت زمونږ فطری قانونی او انيني حق دے ځکه چې پښتون قام يو غاصب قوت ويشلے دے او ددغه غاصب دا عمل قانونی بنه نه لري ځکه نو دپاکستان او افغانستان حکومتونه دې د ډيورنډ دکرښې دواړو غاړو ته پرتو افغانانو ته بغير دکاغذونو دتګ راتګ اوتجارت ازادی ورکړي د اخبرې دپښتونخوا قامی پارتی مشر افضل خان لاله دپښتون سوشل

پاتې صحفه ۵ کالم ۴

پاتې: افضل خان

ډيموکرټيک ګوند دبلجيم دڅانګې لخوا دبلجيم دګنټ په ښار کښې دپښتون قامی وحدت په لړ کښې جوړې شوې جرګې ته خپل خطاب کښې کړيدی ده ووئيل چې دافغانستان موجوده مسئله له دې امله پيدا شوه چې پښتون قام دملی وحدت نه محروم و که چرې دپښتنو په منځ کښې قامی وحدت موجود

وے نو دا اوسنی واقعات به منځ ته نه راتلل او که چرې راغلی هم وے نو ډير زر به د افغاني قام په بريالتوب سرته رسيدلی وے ده زياته کړه چې په موجوده افغانستان کښې په نامه پښتون د اقتدار خاوندو خو په حقيقت کښې درياستی اقتدار نه محروم و په دغه افغانستان کښې پښتنی لباس او طريقه دقدامت نخښه او پښتو ژبه دجهالت نخښه وه او ديو داسې کلتور چې هغې سره دافغانيت هيڅ سروکار نه و په زور واقتصادی غلامی دلاړې په پښتنو

وتپلے شو چې ددې نتيجه دا شوه چې ولس اکثر لوستی پښتانه انګريزی، اردو، فارسی او نورو ژبې ليکلے او لوستلے شی خو په پښتو نه پوهيږی غونډه کښې دپښتون سوشل ډيموکرټيک ګوند مشر ډاکټر کبير ستوری، دګوند دمشر صلاح کارحاجی فضل الرحمان شير، دخپرونې دجرګې، غړی نصير ستوری او دګوند دبلجيم درونبانفکرانو او پوهانو برخه اخستې وه

۹-ستمبر ۲۰۰۱

ABC CERTIFIED

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

MEMBER APNS

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبۍ ورځپاڼه

پېښور

ورځپاڼه

وحدت

چیف ایډیټر

پیرسفید شاه همدرد

رجسټرډ پي نمبر 27

سه شنبه(نهې)، 9جمادی الثانی ،1422 هـ ق 6 ښېبله ،1380هـ ش

28اګست 2001 ،15 بادرو، 2058 ب،جلد 26 ،شماره 235 بیعه 4روپې

# پښتون دشروع راسي د یوقام او یو وحدت نوم دے ، افضل خان

دا قام 1893 کښې پیرنګیانو د یوسازش تر مخه په څلورو برخو ویشلے وُ چې نن هم هغسې تاله واله او ټوټې ټوټې پروت دے

د پښتنو د ټولو قامي او اجتماعي مسئلو حل دې کښې دے چې پښتانه خپل وحدت بیا ترلاسه کړي ،جرمنی کښې خطاب

ملګری ملتونه دې طالبان په رسمیت وپیژني، بندیزونه دې ترې پورته کړےشي، ډاکټر کبیر ستورے

کولن ( وحدت خبر) د پښتونخوا قامي پارټۍ مشر محمد افضل خان ویلي دي چې پښتون د شروع راهسې د یو وحدت او یو وجود نوم دے ولې د یو سازش ترمخه دا یو قام پیرنګیانو په کال ۱۸۹۳ کښې په څلورو برخو وویشلو او د دومره اوږدې مودې تیریدو په وجه د پښتون قام تن هم هغسې ټوټې او تاله واله پروت دے دا خبرې اوږمه ورځ د جرمن د کولن په ښار کښې د پښتنو قامي جرګې ته خپل خطاب کښې کړیدي داجرګه چې پکښې د نړۍ دګڼو هیوادونو څخه قام پرست مشران او سیاسي پوهان شریک دي د

سفحه ۵ کالم ۳

دوخت تقاضا ده که دوی یو موټې شول نو نړۍ کښې د دوی نه زیات صلاحیت لرونکے او مضبوط بل قوم نیشته ده وویل چې پښتانه څکه نظر انداز کړےشوی دی چې ددوی خپلو کښې اتحاد نیشته او په همدغه وجه د دوی په مسئلو کښې اضافه کیږی ده وویل چې دلته جرمنی کښې څلوېښتو زرو پورې پښتانه دی او د دوی مسئلو د هواری دپاره موږ په شریکه کوششونه پیل کړیدي پریکړه به وخت په خپله کوی څکه چې اوس په عالمي کچ واړه قامونه رایو خای کیږی او لوئې وحدتونه جوړوی نو په عالمي کچ د بدلیدونکو حالاتو په تناظر کښې دا خبره اوس ډیره رالنده ده چې پښتانه خپل وحدت وکتي جرګې ته پخپل

خطاب کښې په جرمنی کښې د پښتنو د سوشل ډیمو کراټیک ګوند مشر ډاکټر کبیر ستوری په ملګرو ملتونو زور راوړو چې افغانستان کښې د امن او سوکالۍ دیقیني کولو دپاره د طالبانو حکومت په رسمیت وپیژني او لکه دنړۍ د نورو ملکونو دې د طالبانو حکومت ته هم دا واك ورکړےشي چې هغوی په نړیواله سطح خپلو تجارتي او سفارتي هلوځلو ته دوام ورکړی ده د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا لخوا په طالبانو د لګیدلو بندیزونو غندنه وکړه او وې ویل چې باید دا بندیزونه زرتر زره ختم کړےشي او لروبر پښتنو ته دې موقعه ورکړےشي چې هغوی بغیر د څه پابندیو د تورخم په پوله تګ راتګ وکړےشي ده په دې خبره خفګان ښکاره کړو چې د

افغانستان په زیاته برخه دواك لرلو باوجود د طالبان دنړیوالی رورولئ لخوا تراوسه په رسمیت نه دی پیژندل شوی همدا شان کبیرستوری د طالبانو څخه هم غوښتنه وکړه چې په افغان اولس د غیر ضروری بندیزونو لګولو نه ډډه وکړی چې داشان افغانان هم دنړۍ د نورو قامونو سره دسیالۍ په بام د اودریدو جوګه شی دغه جرګې ته د جرمنی د سوشل ډیمو کراټیك ګوند ډاکټر ګونترالکیلی ، ډاکټر شیر افضل ګردیوال ایډوکیټ علی خان محسود ، محمد شیرین ګردیوال او حاجی فضل الرحمان شیرهم تقریرونه وکړل دپښتون سوشل ډیمو کراټیك پارټۍ سترسکتر او د پښتون کور مشر هدایت الله خان بنګش وویل چې د پښتو اتحاد

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

ABC CERTIFIED

په ټول ملک کښې د پښتو د وړومبي ورځپاڼه

MEMBER APNS

ورځپاڼه پېښور

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

وحدت

چيف ايډيټر: پير سفيد شاه همدرد

# عالمي قوتونو د خپلو مفاداتو د پاره افغانان تباه کړل، اجمل خټک

## چاچې په افغانستان جنګ مسلط کړے وُ، اوس هم هغه قوتونه د امن قائمولو کوششونه کوی

## د هرقوم خپل شناخت شته خو پښتون قوم تراوسه د خپل قومي پېژند ګلونه محرومه دے

پېښور (وحدت خبريال) د اے اين پی مرکزی صدر سنيټر اجمل خټک وئيلی دی چې پاکستان کښې د هرقوم خپل خپل شناخت دے خو پښتون قوم لا تر اوسه د خپل قومي شخص اوُ پېژند ګلونه محرومه دے. د ګل په ورځ دلته د ډاکټرانو يوې دستورې ته خپل خطاب کښې ده ووېل چې پښتونخوا زمونږ پوُلرغونے اوُ تاريخي نوم شناخت اوُحق دے اوَ دا مسئله به اے اين پی په هره سطح راپورته کوی اوُ به خپله صوبه به پښتونخوا نوم ږدی ده ووېل چې صوبه سرحد د هيڅ يوې صوبې نامه نهٔ شی کېدے ځکه چې د هرملک اوُ هرې صوبې سرحدونه

پاتې صفحه اخر اتم کالم

پاتې : : اجمل خټک

وی. ده ووېل چې مونږ دا منوچې دلته غير پښتانهٔ هم اباد دی خو ولې د پاکستان داسې کومه صوبه ده چې هلته دا کثريتی قوم سره نور قوميتونه اباد نهٔ وی؟ د افغانستان په بابله ده ووېل چې افغانستان اوُ افغانان عالمي قوتونو د خپلو مفاداتو د پاره تباه کړل

اوُ په افغانانو ئې جنګ مسلط کړے و خو اوس هم هغه قوتونه لګيا دی روس اوُ وسطی ايشياء ته د ځان رسوُلو د پاره په افغانستان کښې د امن قائموُلو کوششونه کوی.

15 جولائی 1997

A.B.C CERTIFIED
THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN
MEMBER APNS

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبی ورځپاڼه
ورځپاڼه
پېښور
# وحدت
چیف ایډیټر
پیر سفید شاه همدرد
رجسټرډ پي نمبر 27

دچارشمبې (بدھ) ورځ، ۲۵ شعبان ۱۴۲۱ ھ ق، ۲ قوس (لیندۍ) ۱۳۷۹ ھ ش،
22 نومبر ۲۰۰۰ ۱۹۲۰ مکرې ۲۰۵۷ ب، جلد ۲۵ شماره ۳۱۷ بیعه ۳ روپۍ

# پښتانه به یو ځل بیا راغونډیدلي شي، کبیر ستوری

د پښتو د نړیوال کانفرنس او قامي جرګې نه ثابته شوه چې پښتانه متحد کیدی شي

## قامي جرګه زمونږ اثاثه ده، مونږ خپلې لانجې او ربړې په جرګو هوارو

بايد افغانستان کښې داسې نظام محکم شي چې هرچا ته د خپل شخصیت د ودې براخې موقعې په لاس ورشي

پېښور (وحدت خبریال) ایمان کښې د پښتو د ټولنیز او اولسیز ګوند مشر ډاکټر کبیر ستوري وئیلي دي چې پېښور کښې اوس اوس شوی پښتو نړیوال کانفرنس او پښتون قامي جرګه کښې د پښتو پوهانې ته راغونډېدل ډېره ښه خبره ده او د دې نه دا ثابته شوه چې پښتانه به یو ځل راغونډیدي شي او دا هم ډېره ښه خبره ده چې کوم ښت ادبي استعدادونه په پښتونخوا کښې شته هغه ډېر ملکونه تر دې چې پرمخ تلي هیوادونه هم نه لري. «وحدت» سره په خصوصي مرکه کښې ده وویل چې د پښتنو په پوهانې راغونډیدل پو

باتي صفحه ۵ کالم ۲



ډاکټر کبیر ستوری

باتي :: کبیر ستوری

ښت پرمختګ دی. چې اغیزې به ئې ډېره سوده پاتې وی او بیا دوسره زیاتې ادبي ټولنې دلته شته چې ټول یو شي نو ښت قوت به وګرځي. هم دغه وجه ده چې د نړیوال کانفرنس او قامي جرګې نه دا خبره غلطه ثابته شوه چې د پښتنو ترمنځه اتفاق نشته. ده وویل چې به دې دوارو غونډو کښې د ماضي حال او مستقبل پحقله خبرې وشوې چې د یو قام د ترقي د پاره ګټه ورې ګرځیدلې شي بله دا چې دا غونډې صرف ادبي نه وې بلکې په دې کښې نورموضوعات هم د غور لاندې راغلل. ده وویل چې قامي جرګې زمونږ اثاثه ده او به دود دستور: مونږ خپلې لانجې او ربړې هوارو. ډاکټر کبیر ستوری ووئیل چې پښتون قامي جرګه د قا.م. په شکل کښې ده په دې کښې د ټول قام نمائندګان راټول شوی وو چې پکښې قامي سلکان، مشران، لیکوالان او ادیبان شامل وو او کړ دا سلسله روانه شوه نو د پښتون قام ټولې مسئلې به په داسې جرګو کښې وراندې کیدی او هواریدي شي. ده وویل چې دا قسمه غونډې د افغانستان او پاکستان په منځ کښې نږدې والي دي چې دا رنګ دوارو ملکونه یو بل ته نږدې شي او د دښمنۍ په مقابل کښې دوارو هیوادونه دوستي وکړي. تجارتي اړیکې قائم کړي او دا چې د پښتنو په منځ کښې دې لارې نه بندیږي. د دې پوښتنې په ځواب کښې چې د جرګې د پاره پو هینت د افغانستان نه راتلونکی و او جرګه کښې د ګډون پاره د دوی، څرونیول شو. ده ووئیل چې د جرګې راغونډېدونکو ته به دا معلومه شوې وی چې دا هیئت د بل ځائې له یا د افغانستان نه راتلو به دې کښې څوک وو بیا هم کړ د هیئت مخه نیول شوې وی نو دا رویه مناسبه نه ده او د ډیموکریسي د کمزورې کولو یوه هڅه ده. به حیث پښتون د طالبانو د پالیسو پحقله ده وویل چې اسلام او پښتو د یو بل نه نه شي جدا کیدی. طالبانو په افغانستان کښې امن راوستې دی او امن د هر څه نه ډېر ضروري دی او بې د امن هڅه تعلیم او اقتصاد بلکې هیڅ ترقي نه شي کیدی. به بل براو کښې به منطقه کښې د امن د ټینګښت د پاره او هڅه به دې چې په افغانستان کښې یو داسې نظام محکم شي چې پکښې هرچا ته د خپل شخصیت د ودې براخې موقعې په لاس ورشي. اروپا کښې د طالبانو د مخالفت پحقله ده ووئیل چې هر څوک مخالفت د خپلو مفاداتو د پاره کوی. دې لړ کښې د افغانستان کشاله تجارتي ده. کښې خاص کرچې دا به د ترکمانستان نه د افغانستان په لاره پاکستان ته څنګه راتیریږی او ټول هیوادونه غواړي چې دا پائپ لائن دې زمونږ په لاره تیر شي چې زمونږ اقتصاد ترقي وکړي روس هم د ځان نه کښې بوتلل نه غواړي. تهران خپله کته غواړي چې پائپ لائن د دوی په خاوره تیر شي. ده ووئیل چې ټول د خپلو ګټو د پاره کار کوی. روس غواړي چې د مسعود په لاس بې امني راولي ځو د پائپ لائن د تیریدو د پاره امن ضروري دی. د دې سوال به ځواب کښې چې تاسو به افغانستان کښې کوم قسم نظام غواړئ ده ووئیل چې د امن نه پس د هیواد د پاره ضروري ده چې ډېر ګوندیز پارلیماني نظام راوستل شي ګنې به منطقه کښې تامین کیدې شوې مسوله هم ګډوډیدلې شي.

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

ABC CERTIFIED

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبۍ ورځپاڼه

MEMBER APNS

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

ورځپاڼه پېښور

وحدت

چیف ایډیټر: پیر سفید شاه همدرد

دجمعې ورځ، ۵ باره وفات ۱۴۱۸ ه ق، ۲۰ چونګاښ (سرطان) ۱۳۷۶ ه ش، 11 جولائی 1997ء، 27 هاړ 2054 ب، جلد 12، شماره 186

# د پښتنو د یووالي ورځ په «المان» کښې ونمانځل شوه

یو زر کسانو پکښې برخه واخسته، محمد افضل خان پکښې مشر میلمه ؤ

## پښتون قام د یو وجود حیثیت لري، غونډې ته د افضل خان خطاب

کولون (پ ر) د پښتنو ټولنیز اولسولیز ګوند د پښتنو د یووالي ورځ د جولائی د میاشتې په پنځمه نیټه د المان په کولون ښار کښې ونمانځله. په غونډه کښې د زرونه زیاتو کسانو برخه لرله. د ګوند مشر ډاکټر کبیر ستوري د هر کلي وینا وړاندې کړه. ډاکټر شیر افضل ګردیوال د ګوند د جرګې لخوا مقاله وړاندې کړه. په دې موقع د پښتون قامي وحدت لاربود او د پښتونخواه قامي ګوند مشر خان لاله محمد افضل خان چې د پښتنو ټولنیز اولسولیز ګوند په بلنه د یووالي د ورځ د پاره المان ته راغلے وو خپله وینا کښې ووئیل چې پښتون قام د یو وجود حیثیت لري او ترڅو چې د دغو وجود تقسیم شوې برخې یو ځائې نه ترهغې په منځنۍ اسیا او افغانستان کښې امن نه شي قائمیدے. په دې موقع د پښتنو د ټولنیز اولسولیز ګوند مشر کبیر ستوري ووئیل چې طالبان دا وخت د افغانستان د مفاداتو د پاره کار کوي او زموږ ګوند د هر هغه چا حمایت کوي چې د ملي مفاداتو د پاره کوي. ده ووئیل چې د پاکستان او افغانستان ملي مفادات ګډ دي. نو ځکه د یو غټ وحدت یا منطقوي اتحاد په چوکاټ کښې د پښتونخواه د ننه او بهر د پښتنو د یووالي سوچونه روان دي. زه د پښتنو پوهانو څخه هیله کوم چې د منطقوي اتحاد په چوکاټ کښې د پښتنو د یووالي په شکلونو او موډلونو څیړنې او غور وکړي.

جمعه ۱۱ جولائی ۱۹۹۷ء

وحدت پېښور

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

د پښتنو د یووالي ورځ

# د نصرالله خان نصر 35 م تلین ونمانځلې شو

په دې اړه د خلیل عوامي اتحاد لخوا لویه د ستوره وشوه، مقررینو نصر صیب ته سرږوني پیش کړي

پېښور(وحدت خبریال) د شهید نصر الله خان نصر د شهادت پنځه ویشتم تلین پرون د خلیل عوامی اتحاد د ثقافتی څانګې لخوا په ځانګړو مراسمو سره په پرتاکال کښې ونمانځلې شو او د مرحوم نصر په فرهنګی شخصیت رڼا واچول شوه. د غه غونډه چې صدرتي حاجی یوسف علی خلیل او مشر میلمه پکښې د وحدت ورځپاڼې رئیس پیر سید سفید شاه همدرد وُ. د قران کریم د څو

باقي صفحه ۵ کالم ۸

باقي :: نصر تلین

مبارکو ایاتونو په تلاوت سره پرانستل شوه وروسته په ترتیب سره داکټر هدایت الله، پیر سید سفید شاه همدرد ، صابر شاه صابر، ډاکټر کبیر ستوری، ملک محمد خلیل، نوبهار شاه خلیل، ارباب مسعود خان، احمد علی عاجز او نورو خبرې وکړې او پښتو ژبې او پښتو ادب ته د مرحوم نصر د خدمتونو په اړه ئې مطالب څرګند کړل. وینا والو ووئیل چې نصرالله خان نصر په خپل وخت پښتو ژبې او پښتو ادب ته دومره خدمت کړے دے چې د اوخت ئې په لړه او بره پښتونخوا کښې خپل ادبی مقام ساتلے دے. وینا والو ووئیل چې نصر په دې برسیره چې وتلے شاعر، ادیب او لیکوال وُ د پښتو ژبې د تعمیم او رواجولو د پاره ئې شپه اؤ ورځ په ځان یوه کړې وه. نصرالله خان نصر د نولس سوه درې شپیته کال د نومبر د میاشتې په دوه ویشتمه نیټه په شهادت رسیدلے وُ اوُ دا غلورسه غونډه ده چې د دغه مرحوم په یاد کښې جوړیږی، د غونډې په پائی کښې یوه مشاعره هم وشوه او د اروانباد د شاعری اؤ فرهنګی شخصیت په باره کښې ګڼو شاعرانو خپل شعرونه واورول.


وحدت

ورځپاڼه

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبۍ ورځپاڼه

پېښور

چیف ایډیټر

پیر سفید شاه همدرد

MEMBER APNS

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

ABC CERTIFIED

ABC CERTIFIED

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

MEMBER A.P.N

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبۍ ورځپاڼه

پيښور

ورځپاڼه

# وحدت

چيف ايډيټر

پير سفيد شاه همدرد

رجسټرډ پي نمبر 27

دوشنبه (پير) ورځ، 17 صفر المظفر، 1426هـ ق، 8 وري (حمل)، 1384هـ ش

28 مارچ 2005ء، 14 چيتر، 2061ب، جلد 30، شماره 84، بيعه 4 روپۍ

## دنړيوال پښتو ادبي کنونشن غوښتنه

# پښتو دې رسمي ژبه وګرځول شي

**پښتنو ته دې په دې خاوره دخپل ملي شناخت حق ورکړے شي او دصوبه سرحد نوم دې پښتونخوا کيښودے شي**

**افغانستان کښې د يورينيم زده کسانو دوړياعلاج بندوبست دې وکړے شي او په افغانستان دې نورې بمبارۍ بندې کړے شي**

**پښتو دې ترلسمه نصاب کښې شامل او لسم نه ځوارلسم پورې دې لازمي مضمون وګرځولے شي**

**دپښتو داستاذانو په خالي اساميو دې بهرتي وکړے شي، په ټي وي او ريډيو دې دپښتو پروګرامونو وخت سيوا کړے شي**

**نړيوال پښتو ادبي کنونشن کښې په دوهمه ورځ په سلګونو کسان شامل شول، په مختلفو موضوعاتو مقالې وړاندې کړے شوې**

پيښور (مېيا فاروق فراق) پښتنو ته دې په دې خاوره کښې دخپل ملي شناخت حق ورکړے شي . او دصوبائي اسمبلۍ لخوا دمنظور شوي قرارداد مطابق دې دصوبه سرحد نوم په پښتونخوا بدل کړے شي ، صوبائي حکومت دې داسمبلۍ دقرارداد احترام وکړي او پښتو دې په دې صوبه کښې رسمي او سرکاري ژبه وګرځول شي ، دا غوښتنه په پيښور کښې دجوړ شوي پښتو عالمي ادبي کنونشن په دويمه ورځ دکنونشن لخوا منظور شوؤ قراردادونو کښې شويده. په قرارداد کښې ووئيل شول چې تيردور کښې ددې صوبې منتخبې اسمبلۍ دصوبې دنوم بدلولو قرارداد په درونه اکثريت سره منظور کړو او غوښتنه ئې وکړه چې دپښتنو سيمې ته دخپل ملي شناخت په توګه دپښتونخوا دنوم اېښودو حق ورکړل شي ، لهذا اوس دحکومت قومي ، اخلاقي او ائيني ذمه واري جوړيږي چې ددې صوبې دمنتخبې اسمبلۍ دغه غوښتنه ومني او دصوبه سرحد نوم په پښتونخوا بدل کړي . قرارداد کښې دا هم ووئيل شول چې چونکې دپښتونخوا په حواله قرارداد دسرحد اسمبلۍ نه منظور شويدے خکه نو ددې صوبې دحکومت اخلاقي . او قومي ذمه واري جوړيږي چې دخپلې اسمبلۍ دغوښتنې په احترام دصوبې ټولو سرکاري دفترونو او محکمو کښې دې ليکل لوستل په پښتو ژبه کښې کړي . او هم دې پښتو ددې صوبې سرکاري او رسمي ژبه وګرځول شي ، يو بل قرارداد کښې غوښتنه وکړے شوه چې دګورنر فضل حق مرحوم په کوششونو تيروخت کښې پښتو تر پرائمري کچ پورې لازمي ګرځول شوې وه خو وروستو بيا پښتو دتعليمي نصاب نه وويستے شوه خکه نو دا کنونشن غوښتنه کوي چې پښتو دې تر لسمه پورې نصاب کښې شامل او دلسم نه ځوارلسم پورې دې لازمي مضمون وګرځول شي ، همدا شان غوښتنه وشوه چې بلوچستان کښې دې دلمړي نه تر لسم پورې تعليمي نصاب کښې دپښتو مضمون لازمي کړے شي او هم دې دپښتونخوا صوبې په ټولو پرائيويټ او سرکاري تعليمي ادارو کښې پښتو ديو مضمون په توګه لازمي وګرځول شي ، بل قرارداد کښې غوښتنه وکړے شوه چې په کومو کالجونو کښې دپښتو داستاذانو او دپښتو خالي اسامي دي هغه دې ډکې کړے شي ، بل قرارداد کښې غوښتنه وشوه چې صوبائي حکومت دې دپښتو سيمونومونه نورو ژبو ته نه اړوي او هرې سيمې ته دې دخپل پښتون شناخت حق ورکړل شي کنونشن دا

باقي صفحه 5 کالم 2

ABC CERTIFIED

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

MEMBER APNS

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبۍ ورځپاڼه

ورځپاڼه پېښور

# وحدت

چیف ایډیټر
پیر سفید شاه همدرد

رجسټرډ پي نمبر 27

یکشنبه (اتوار) ورځ 29 شعبان المعظم 1424ھ ق، 3 لړم (عقرب) 1382ھ ش
26 اکتوبر 2003ء، 8 کتک 2060 ب، جلد 28، شماره 294، بیعه 4 روپۍ

## اکادمی ادبیات ډاکټر کبیر ستوري له میلمستیا ورکړه

**د افسوس مقام دے چې خارجي ملکونو کښې د پښتو دودې هڅې کېږي او پښتونخوا کښې نه، ستوری**

پېښور (وحدت خبریال) اکادمی ادبیات پېښور څانګې پرون د نوموړي قوم پرست مشر او شاعر کبیر ستوري په درناوی کښې میلمستیا ورکړه په دې موقع ډاکټر فضل دین خټک د پښتو اکیډمۍ ډائریکټر راج ولی شاه خټک د اکادمی ادبیات ریزیډنټ ډائریکټر سیدولی خیال د پي ټي وي سینئیر

پاتې صفحه 5 کالم 5

پاتې: اکادمی ادبیات

پروډیوسر عزیز اعجاز، لیاقت علی سیماب او نوموړے پروډیوسر لائق زاده لائق هم موجود وو په دې موقع کبیر ستوري ووئیل چې په خارجي هیوادونو کښې د پښتو ژبې د پرمختګ د پاره عملي کارونه کېږي خو د افسوس خبره ده چې پښتونخوا کښې د پښتو ژبې د خدمت د پاره ټولې جذبې سړې شوې دی. ده دا هم ووئیل چې پېښور د پښتو ادب مرکز دے او هم د دې ځائې نه د ادب پلوشې خورېږي او مونږ د دې ځائې په لیکوالو باندې فخر کوو.

ABC CERTIFIED

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

MEMBER APNS

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبۍ ورځپاڼه

ورځپاڼه پېښور

وحدت

چیف ایډیټر
پیر سفید شاه همدرد

رجسټرډ پي نمبر 27

جمعه، 26 جمادی الثانی، 1422 هـ ق، 23 سنبله، 1380 هـ ش

14 ستمبر 2001، اسو، 2058 ب، جلد 26، شماره 251، بیعه 4 روپۍ

افغانستان کښې امن نه بغیر

# منطقه کښې امن نه شي قائمېدې، افضل خان

## افغان اولس د هر استعمار په نره مقابله کړېده، د نړۍ یو قوت هم په افغانانو خپله زورګیري نه شي تپلې

## پښتانه په هر څه پوره دي ولې دیو اتفاق ورسره سخت کمې دې، همدغه بې اتفاقي مونږ ډلو کښې وېشلي یو

## امریکا کښې دشوې دهشت ګردۍ غندنه کوو، د تشدد په ذریعه مسئلې نه شي هوارېدې، جرمني کښې خطاب

جرمني (وحدت خبریال) دپښتونخوا قامي پارټۍ مشر او قام پرست رهنما افضل خان لاله څوک چې په جرمني کښې دپښتون سوشل ډیموکراټیک پارټۍ په بلنه داو خت دختې یورپي هیوادونو په دوره دے ورمه ورخ دجرمني په منشن ګلایخ ښار کښې په یوه درنه غونډه کښې ګډون وکړو دا غونډه دپوهاند ډاکټر محمد قاسم جمدر له خوا جوړه کړے شوې وه چې پکښې دنورو ګڼو روشنفکرانو نه علاوه زلمی هیواد مل هم ګډون وکړو په دې موقع غونډې ته په خپله وینا کښې محمد افضل خان لاله ووئیل چې زمونږ دټولو محرومیانو او وروستو پاتې کېدو یوازینی وجه داده چې مونږ دیو قام په حیث خپله پېژندګلوی نه لرو پښتانه په هر څه پوره دي ولې دیو اتفاق ورسره سخت کمے دے هم دغه بې اتفاقي مونږ په بېلو بېلو ډلو کښې وېشلي یو دا پاته کړه چې پښتون دیووحدت نوم دے ولې دغه وحدت زمونږ نه یو استعماري قوت په چل ول او دهوکه اخستے دے نن که مونږ دخپلو محرومیانو دحل خبره کوو نو ددې دپاره ضروري ده چې مونږ خان وګټو

خپل کورو ګټو څکه چې افغانستان دنړۍ په داسې ځاې کښې پروت دے چې د هرلحاظ سره اهیمت لری څکه خو ورته علامه اقبال د ایشیا زړه وئیلی دی ترڅو پورې چې په افغانستان کښې امن نه وی نو تولے منطقه کښې امن نشي راتلے قام پرست مشر ووئیل چې افغان اولس دهمیشه راسې ازاد پاتې شوے دے او دخپلې تورې او میړانې په وجه ئې دهر جارح او استعمار قوت مقابله کړې ده په غونډه کښې شریکو پوهانو د پښتون قامي وحدت دپاره د افضل خان لاله کوششونه وستائیل په یوه بله غونډه کښې چې دپښتون سوشل ډیمو کراټیک پارټۍ له خوا په فرانکفورټ کښې جوړه شوه هم دېره مهمه غونډه وه غونډې ته دپارټۍ دفرانکفورټ دڅانګې دمشر لاله اقبال نه علاوه دګوند مشر ډاکټر کبیر ستوری، محمد شرین ګردیوال حاجی فضل الرحمان شیر، مبارز صافی، عزیز سر شار او

نصیر ستوری وینا وکړه په دې موقع افضل خان لاله یو خل بیا پېښتون قام ته په کلکه دا غږ اوکړو چې په نړۍ واله سطح دبدلېدونکو حالاتو په تناظر کښې اوس پښتون قام ته دخپل مستقبل په حقله سوچ پکار دے څکه چې ترڅو مونږ داسې تالا واله یو نو دنړۍ دقامونو سیالی نشو کولے افضل خان لاله ووئیل چې د افغانستان دموجوده حالاتو ذمه واری زمونږ په سرده ګنې دنړۍ یو قوت په افغان اولس خپله زور ګیری نشی منلے دلته که انګریز راغلے دے او که چنګیز ماتې ئې خوړلې ده او په شا تښتېدلے دے قام پرست مشر ټولو افغانانو ته غږ وکړو چې دقامي وحدت دپاره خپلې هلې ځلې تندې کړی افضل خان لاله دجرمنی نه علاوه په هالینډ، بلجیم، فرانس او نورو یورپي هیوادونو کښې دپښتنو روشنفکرانو سره لیده کاته کوی دا ټولې جرګې دهغه قامي جرګې کړی دی دکومې ابتداء چې دپېښور نه شوې ده بلخوا دپښتونخوا پارټۍ مشر افضل خان لاله اوپه جرمني کښې دپښتون سوشل ډیمو کراټیک

پارټۍ مشر ډاکټر کبیر ستوری په امریکا کښې د داړه ماری او تخریب کارۍ موجوده اقدام ډېر په کلکه غندلے دے دوی په خپله یوه شریکه اعلامیه کښې وئیلی دی چې دداړه مارۍ او تخریب کارۍ دا کارونه کله هم د اولس په ګټه نه تمامېږي دوی وئیلی دی چې ځینې مذهبي ډلې او ځینې انتها پسند ګوندونه دداسې اقداماتو سرپرستي کوی کومه چې ډېر خطرناکه او دغندنې وړ خبره ده څکه چې د تشدد د لارې دمسئلو حل نه شی راوتلے په شریکه اعلامیه کښې د امریکې د بې ګناه وژل شوو کسانوپه وژنه د ډېر غم او درد اظهار شوے دے څکه چې انسان وژنه هر چرته تونیدنه دښې نیتجې نه ورکوی په داسې حال کښې دواړو مشرانو پښتون اولس ته غږ کړے دے چې دیو پرامنه او خوشحاله ژوند دپاره دې ددوی دجمهوری قوتونو مرسته وکړی څکه په عالمي سطحه دبدلېدونکو حالاتو تقاضا هم دغه ده چې جمهوری فکر ته وده ورکړے شي او دخپلې خبرې سره سره دبل خبره هم واورېدلے شي

# وحدت

چیف ایډیټر و پبلشر پیر سید سفید شاه همدرد ورځپاڼه "وحدت" د پاکستان د حکومت
په تصدیق د وحدت پریس خیبربازار پېښور نه چېږي، ایډیټر پیر محمد شاه
ایډیټر ظفرعلي شاه ګیلاني، پته: ورځپاڼه وحدت ۲۰ اسلامیه کلب بلډنګ
خیبربازار پېښور فون: ۲۱۴۰۳۴ ۲۱۴۱۵۴ فیکس ۲۱۴۳۳۱
Emile: wahdat@pes.comsats.net.pk

جمعه ۱۷ اکتوبر ۲۰۰۳


17 Oktober 2007

د ډیورنډ د کرښې نه وړاندې

# د افغانستان د پښتنو د حقونو غم ښکار دے شي، سلیم سیف الله

که دَ پښتنو د قامي وحدت او حقونو دپاره قامي جرګه جوړېږي نو ددې دپاره زما ګوند دافضل خان په مشرۍ کار کولو ته تیار دے

پېښور (وحدت خبریال) د مسلم لیګ (ق) مرکزي سترسکتر سلیم سیف الله خان وئیلي دي چې پښتنو ته الله تعالی هر قسمه صلاحیتونه او وسیلې ورکړیدي. خو د دوی کمزوري دا ده چې هر څوک خان لیډر ګڼي. او د نورو مشرۍ نه منی که چرې د پښتنو د قامي وحدت او حقونو دپاره قامي جرګه جوړېږي نو دې دپاره زهٔ او زما جماعت د افضل خان لاله په مشرۍ کښې کارکولو ته تیار یو. پېښور پریس کلب کښې دوه ورځنۍ قامي جرګې ته د تقریر په وخت دهٔ وئیل چې د پښتون قام د ترقۍ او خوشحالۍ دپاره د پښتنو ترمینځ اتحاد او اتفاق د وخت اهم ضرورت دے دهٔ وئیل چې ما او زما ګوړنۍ د پښتنو خدمت کړے دے. د نورو په شان موټره خپلې کارخانې پنجاب او کراچۍ کښې نه دی لګولی. بلکې دلته مولګولي دي. او د دې خاې خلق پکښې روزګار کوي. زهٔ په دې فخر کوم چې زهٔ د پښتون او مسلمان کور کښې پیدا شوے یم. دهٔ وئیل چې د پښتنو د خبرو کولو په وخت موټر له کراچۍ او پنجاب کښې اوسیدونکي پښتانه هم یاد ساتل پکار دي. دهٔ وئیل چې د ډیورنډ کرښې نه وړاندې د افغانستان موجوده حالاتو کښې د د غه خاې پښتون اکثریت له د صحیح نمائندګۍ ورکولو دپاره اقدامات کول پکار دي. دهٔ وئیل چې حامد کرزے که هر څه دے خو پښتون دے او جنرل مشرف په دې وجه دستاینې وړ دے چې اولس او افغان حکومت سره مرسته کوي. دهٔ وئیل چې د دې صوبې خلقو پکار دی چې افغانستان سره تجارت او همکاري وکړي. په دې به د ډیورنډلائن مسئلې په خپله ختمې شي

17 Oktober 2003

په ټول ملک کښې د پښتو وړومبې ورځپاڼه
پېښور
ورځپاڼه
# وحدت
چیف ایډیټر
پیرسفید شاه همدرد
رجسټرډ پي نمبر 27
شنبه (خالی) ارمضان المبارک 1422 هـ ق، 26 عقرب 1380 هـ ش
17 نومبر 2001، 5 مگر، 2058 ب، جلد 26، شماره 316 بیعه 4 روپی

# دحکومت جوړولو حق دي افغان اولس ته ورکړے شي. کبیر ستوری

## دشمالی اتحاد او پخوانی باچا دحکومت راوستو هڅې دبشری حقونو په ضد کار گڼو

## دپښتنو دشمولیت نه پرته نه حکومت جوړیدے شی او نه سیمه کښې ثبات او سوکالی راتلے شی

## دمسئلې دحل لاره داده چې افغانستان کښې ډیر گوندیزه پارلیمانی دیموکراسی پلی کړے شي

پیښور (پ ر) دپښتون سوشل ډیموکراټیک گوند ډاکټر کبیر ستوری په یو بیان کښې وئیلی دی چې زمونږ گوند د بهرنیو قوتونو لخوا په افغانستان کښې دشمالی اتحاد او پخوانی بادشاه محمد ظاهر شاه د حکومت راوستو هڅې د بشری حقوقو په ضد کار گڼی ځکه چې دشمالی اتحاد قوماندانانوهم پخوانی باچ په تیر وخت کښې افغان اولس ډیر دردولے دے باید چې دحکومت جوړولو حق افغان اولس ته ورکړے شی ده وئیلی دی چې پښتانه په افغانستان دوه شپیته اعشاریه اووه دري او پاکستان کښې دوه ویشت اعشاریه اووه فیصده دی ددوی غم او ښادی سره شریکه ده ده زیاته کړه چې د پښتنو دشاملولو نه پر ته نه حکومت جوړیدے شی او نه په سیمه کښې ثبات او سوکالی راتلے شی ډاکټر کبیر ستوری وئیلی دی چې د افغانستان د لانجې حل او په منطقه کښې امن او ثبات دپاره تر ټولو غوره لاره په افغانستان کښې د ډیر گوندیز پارلیمانی ډیموکراسی پلمی کول دی ددې هدف دپاره پښتون سوشل ډیموکراټیک گوند د لوئې جرگې د راغوښتلو وړاندیز کوی اودې لاندې ټکوته پاملرنه ضروری گڼی. ملگری ملتونه دې په سیمه کښې میشته سلو تنو نامتو پښتنو مشرانو ته بلنه ورکړی چې دوی دپښتونولی ددود او دستور مطابق لویه جرگه راوغواړی. لویه جرگه دې پښتنې سیمیه کښې جوړه کړے شی او ددې لگښت دې ملگری ملتونه په غاړه واخلی. د پښتنو په هره ضلع کښې د ډیرې مودې راسې د جرگو مرکو عنعنوی سیستم شته لوئې جرگې ته دې دسیاسی، مذهبی، قومی مشران او ددې سیمه ایزو جرگو نمائنده گان راوغوښتل شی دالویه جرگه دې دعنعنوی سیمه ایزو جرگو د نمائنده گانو څخه یو موقتی پارلیمان جوړ کړی او هم دې دې سیمه ایزو جرگئو ته دنده وړپه غاړه کړے شی چې به پخپله سیمه کښې امن ټینگ کړی باید چې دا پارلیمان موقتی حکومت وټاکی او داحکومت ملگری ملتونه په رسمیت وپیژنی او د افغانستان څخه بندیزونه پورته کړی دا پارلیمان او حکومت باید په ټاکلی موده کښې اساسی قانون جوړ کړی چې د ډیر گوندیز پارلیمانی ډیموکراسی بنه ولری او د تائید دپاره ئې لویه جرگه راوغوښتل شی شمالی اتحاد ته هم پکار دی چې دخپل نفوذ د ښمیر سره سم لوئې جرگې یا پارلیمان ته خپل نمائنده گان ولیږی. ملگری ملتونه دې د افغانستان د بیا ودانۍ او داروپا داتحاد په شان دگډې اقتصادی ټولنې جوړولو دپاره دلاړې برابرولو ذمه واری په غاړه واخلی تر څو د مرکزی ایشیا اولسونه دوروولی په فضا کښې د خپلو تیلو، گیس، او نورو ذخیرو څخه استفاده وکړی او د تجارت او تگ راتگ ازادی رامینځ ته شی. ده هیله څرگنده کړې ده چې ټول دوست هیوادونه به د سولې ددې نوښتن په عملی کولو کښې مرسته وکړی. ځکه چې دې عمل سره به افغانستان ا و مرکزی ایشیا کښې سوله د داډ وړ شی ده د امریکې څخه هم غوښتنه وکړه چې نور په افغانستان بریدونه بند کړی ځکه چې د بې گناه افغانانو وینه توئیول نه اخلاقی او نه قانونی جواز لری. او نه داره ماری حل کولے شی بلکې دې سره به دامریکا په ضد کرکه او نفرت نور هم زیات شی

ABC CERTIFIED

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

MEMBER APNS

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبۍ ورځپاڼه

پېښور

ورځپاڼه

# وحدت

چیف ایډیټر

پیر سفید شاه همدرد

رجسټرډ پي نمبر 27

پنجشنبه (زیارت) ۲۰ صفر ۱۴۲۱ ه ق، ۵ اوړے (جوزا) ۱۳۷۹ ش، 25، مئی ۲۰۰۰ء ۱۵ جیټھ ۲۰۵۷ ب، جلد ۲۵، شماره ۱۳۶، بیعه ۳ روپۍ

## د روس بریدونه به بې ځوابه پاتې نهٔ شي، کبیر ستورے

### روسیه زمونږ د پخوانۍ جګړې د تاوان پوره وړې ده

پېښور (پ ر) د پښتون سوشل ډیمو کرېټک ګوند مشر دا کبیر ستوری پهٔ افغانستان د روسانو لخوا د توغندیو د حملو ګواښ غندنه کړیده او وئیلي ئې دي چې داډول بریدونه به بې ځوابه پاتې نهٔ شي. چې داورلمبې به ئې نهٔ یوازې روسیه درې وړې کړي بلکې ټوله سیمه به بې ثباته کړي. پرون یو مطبوعاتي بیان کښې ده ووئیل چې روسیه زمونږ د پخوانۍ جګړې د تاوان پوره وړې ده. د روسیې جمهور رئیس ته پکار دي چې پخوانے پورور کړي او ځان نور پوره وړے نکړي. ده ووئیل چې روسیه هڅه کوي چې د منځنۍ اسیا خپلواک هیوادونه یا پهٔ بلې طریقې د خپل جع لاندې راولي. او د هغوی پهٔ

پاتې صفحه ۵ کالم ۱

### پاتې :: کبیر ستورے

شتمنیو چې اوس ورته بازار پیدا شوے دے قبضه وکړي. کبیر ستوري ووئیل چې روسیه یوځوا د مسعود پهٔ واسطه پهٔ افغانستان کښې ناراسې جوړوي او د بلې خوا د منځنۍ اسیا خپلواک هیوادونه لسوی او د طالبانو حکومت سره ئې پهٔ جنګ اچوي حال دا چې طالبان یو سوله خوښوونکے ځواک دے. ده ووئیل چې د منځنۍ اسیا هیوادونه چې د روسیې لمسون ونهٔ مني. او د افغانستان اسلامي امارت سره چې ډیر ځهٔ ورسره شریک دي د خپل مفاداتونو دفاع وکړي او د نړۍ د نورو منطقو پهٔ شان اقتصادي ټولنې کښې سره راټول شي.

ABC CERTIFIED

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

MEMBER APNS

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبۍ ورځپاڼه

پېښور ورځپاڼه

# وحدت

چيف ايډيټر
پير سفيد شاه همدرد

رجسټرډ پي نمبر 27

سه شنبه (نهم)، 14رجب المرجب ،1422 هـ ق، 9ميزان، 1380هـ ش
2اکتوبر 2001، 19 اسو، 2058 ب، جلد 26 ،شماره 269 ،بيعه 4روپۍ

# دظاهرشاه راوستل به سيمه لوئي کشالي سره مخ کړي ، کبير ستوری

## هرڅوکۀ ظاهرشاه په ختهٔ پښتون دے خوپخپل خلوېښت کلن دور کښې ئې پښتانهٔ تګولی دی

## نن دجمهوري قوتونو دقدرت دور دےځکه نو منطقه کښې دې دمستقل امن دپاره دجمهوري نظام دجوړښت لارې برابرې کړے شي

پېښور (وحدت خبريال) په جرمنی کښې دپښتون سوشل ډيموکراتيک ګوند مشر ډاکټر کبير ستوری په خپل يو بيان کښې دامريکې او افغانستان د حکومتونو نه دا غوښتنه کړيده چې د اوسنی لانجې او غلط فهمی حل دخبرو اترو او سولې د لارې مينځ ته راوړی چې دڅه شان د افغانستان عام اولس د جګړو په اور کښې ونه سوزی. ده زياته کړيده چې يوويشتمه صدی دامن اوسولی پيړۍ ده چې په کښې د هيوادونو ترمينځه فاصلې رالنډيږی په داسې حال کښې به په افغانستان باندې جنګ ورتپل کومې ښې نتيجې رابرسيره نه کړی ډاکټر کبير ستوری زياته کړه چې که چرې په طالبانو باندې دغربی هيوادونو له اړخه بنديزونه نه وے لګول شوے او دوی لکه د نورو خپلواکو هيواو په رسميت پيژوندل شوے وے نو دڅه حالات به چرې هم مينځ ته نه راتلل ځکه چې پښتانه فطری طور امن خوښونکې قام دے دپخوانی باچا محمد ظاهر شاه افغانستان ته د بيا راتګ په بابله کبير ستوری ووېل چې که هر څو ظاهر شاه باچا په خته پښتون دے ولې د اولس داسې د خپلې ژبې خپل کلتور ، خپلو روايـاتو او خپلې "پښتو" نه پردے پاتې شوے دے او ترديې چې په پښتو ژبه هم نه پوهيږی دڅه باچا نه صرف دا چې په خپله خلوېښت کلن دور کښې پښتانــه تګولــی دی بلکــې د پاکستان سره ئې هم په ښکاره ډول دښمنی کړيده هم دڅه دښمنی وه چې د پاکستان او افغانستان د پښتون ترمينځ ئې فاصلې سيوا کړې. ده د شمالی اتحاد او د ظاهر شاه ترمينځ د رابطو په حواله ووېل چې کومو لويو قومندانانو دشمالی اتحاد په مرسته محمد ظاهر شاه دوبـاره په افغانستان مسلط کړو نو په دې منطقه کښې به يوه داسې شخړه رامينځ ته شي چې بيابه ئې څوك هم په حل نه پوهيږی ځکه د افغانستان د ابادی لويه برخه پښتانه او پښتانه کله هم په ځان باندې کم شميره دلې زورګيری نه شی منلے. ډاکټر کبير ستوری ووېل چې نن سبا د جمهوری قوتونو د قدرت دور دے نو ښه به داوی چې په دې منطقه کښې د مستقل امن دپاره دجمهوری نظام دجوړښت لارې برابرې شی. او پښتون اولس ته دجمهوريت د بيرغ لاندې د ژوند تيرولو موقع ورکولے شـی څو د تيرو پنځويشتو کالو راسې اولس نور د کړاونو سره مخ نه شی ځکه چې د افغانستان ناقراری ده ددڅه اتل حقيقت په تناظر کښې بايد امريکا دافغان حکومت سره نيغ په نيغه د خبرو سلسله پيل کړی چې د څه مودې راسې ددې غير يقينی صورت حال څه نتيجې رابرسيره شی او ددې منطقې عام وګړی د سکون ساه واخلی.

وحدت

سه شنبه (نهم) ۲ اکتوبر ۲۰۰۱

چيف ايډيټر وپبلشر پير سيدسفيدشاه همدرد د ورځپاڼه "وحدت" دپاکستان دحکومت په تصديق دوحدت پريس خيبربازار پيښور نه خپروي. ايډيټر پير حمدل شاه ايډيټر: ظفر علی شاه ګيلانی پته: د ورځپاڼه وحدت ۲۰ اسلاميه کلب بلډنګ خيبربازار پيښور ـــ فون: ۲۱۴۰۳۴ ۲۱۴۱۵٤ فيکس ۲۱٤۳۳۱
Emile: wahdat@pes.comsats.net.pk

ABC CERTIFIED

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

MEMBER APNS

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبي ورځپاڼه

پېښور

ورځپاڼه

وحدت

چیف ایډیټر
پیر سفید شاه همدرد

رجسټرډ پي نمبر 27

جمعه ۲۴ شعبان ۱۴۲۰ ه ق، ۱۲ قوس (لیندۍ) ۱۳۷۸ ش
3 دسمبر ۱۹۹۹ء، ۱۶ مگر ۲۰۵۶ ب، جلد ۲۴، شماره ۳۲۸، بیعه ۳ روپۍ

# د ټولو پښتنو اتحاد غواړو، هدایت بنګش

## د روم او جرمني غونډې افغانستان کښې هیڅ بدلون نهٔ شي راوستې

### افغانستان کښې امن راتلل دوخت اهمه غوښتنه ده، اخبارۍ خبرې

پېښور (این این ائی) د پښتون سوشل ډیموکریټک پارټۍ جرمنۍ مشر سکتر. هدایت الله خان بنګش وئیلی دی چې روم او جرمنی کښې شوې افغاني غونډې افغانستان کښې هیڅ بدلون نهٔ شي راوستې، داغونډې بوازې د پیسو ضیاع او د تعلیم یافته او بااثرو افغانانو د مصروف ساتلو بهانه ده دې سره د هغو ټرلو پهٔ ځائې باید ټول افغانان طالبانو سره سرسته ملګرتیا وکړي ولې چې طالبان د افغانستان اصل واکمن دی. د افغانستان پهٔ پنځهٔ نوی فیصده خاوره کنټرول لري او د وسله والو کسانو نه ئې وسله ټوله کړې ده پېښور کښې اخباري نمائندګانو سره د خبرو کولو پهٔ وخت دهٔ ووئیل چې زمونږ د تنظیم مقصد جرمني کښې موجود ټول پښتانهٔ متحد کول دی چې د دغه شان دوی خپل تشخص او روایات ژوندي وساتی. دهٔ ووئیل چې مونږ د افغانستان او پاکستان ترمینځه د ډیورنډ لائن پهٔ نوم را کښلې کرښه نهٔ منو، مونږ د ټولو پښتنو اتحاد غواړو که هغوی لر اوسیږي یا بر اوسیږی ده زیاته کړه چې زمونږ تنظیم جرمنی کښې د پښتو یو سکول چلوی چرته چې پښتو ژبه ښودلې کیږی، او جرمن پښتو ډکشنري او جرمني کښې د پښتو زده کولو کتابونه خپروی او ددې کافی مثبت اثرات راڅرګند شوی دی. د یوې پوښتنې پهٔ ځواب کښی دهٔ ووئیل چې کال اتلس سوه دري نوی کښې د نومبر پهٔ دولسمه نیټه چې انګریزانو د ډیورنډ لائن کومه معاهده کړې وه هغه د انګریزانو تللو سره پخپله ختمه شوې ده او د سلیزې پهٔ پوره کیدو مونږ جرمنی کښې د پښتنو د یو والي ورځ نمانځلې ده افغانستان کښې د بهرنی لاس وهنې پهٔ حقله دهٔ ووئیل چې ترڅو افغانستان کښې بهرنی لاس وهنې کیږی. نو ددې بد اثرات بهٔ پهٔ ګاونډیو هیوادونو هم پریوځی. دهٔ زیاته کړه چې د اوخت ټوله جګړه اقتصادی ده ایران، پاکستان، ترکی او افغانستان ټول غواړی چې د انرجی پائپ لائن دې د دوی حدودو کښې تیر شی. د یوې پوښتنې ځواب کښې دهٔ زیاته کړه چې افغانستان کښې امن راتلل دوخت اهمه غوښتنه ده دهٔ زیاته کړه چې افغانستان کښې امن او مستقل نمائنده حکومت قائمیدو د پاره دې افغانستان کښې د کلیو پهٔ کچ جرګې راوغوښتې شی چې دوی نمائندګان خوښ کړی او چې کله دا لړۍ مکمل شی نو بیا دې لویه جرګه راوغوښتې شی او د نمائنده حکومت د قیام د پاره دې کوشش وکړې شی. د یوې بلې پوښتنې پهٔ ځواب کښې دهٔ ووئیل چې مونږ خپل تنظیم کښې د پاکستان او افغانستان پښتنو ته برابره نمائندګی ورکړې ده او داوخت ددې تنظیم صدر د افغانستان او مشر سکتر د پاکستان دے.

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

ABC CERTIFIED

په ټول ملک کښې د پښتو وړومبې ورځپاڼه

MEMBER APNS

ورځپاڼه

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

وحدت

پېښور

چیف ایډیټر: پیر سفید شاه همدرد

(رجسټرډ نمبر ۲۰) بیه خلور (4) روپۍ

د یکشنبې (اتوار) ورځ ۲۶ د ربیع الثاني ۱۴۱۸ هـ ق. ۹ د وږي (سنبله) ۱۳۷۶ هـ ش. 31 اگست 1997ء، 17 بادرو 2054 ب، جلد 17، شماره 235

# د محمد افضل خان «قامي وحدت»

لیک: ډاکټر محمد اعظم اعظم

د نیا غلي محمد افضل خان (خان لالا) نامه د شلمې صدۍ د پښتنو په هغه مشرانو کښې راځي، څوک چې د ازادۍ نه پس په فکري او عملي توګه د قام او وطن خدمت ته راوتلی دی، او په دغه ازغنه لار کښې ئې د هر قسمه کړاېنتونو او قربانو له غاړه ورکړې ده، په پاکستان دننه د پاکستاني اولس د خوشحالۍ او سوکالۍ د پاره د سیاست په میدان کښې د هغه هلې ځلې عموماً د پښتون قام د ترقۍ او د ملي تشخص د ټاکلو په لړ کښې د هغه پرله پسې زیارونه څۀ پټ پناه شے نۀ دے.

په دې وطن کښې د جمهوریت دودې او جمهوري اصولو د پرمختګ په تحریکونو کښې چې د شمیر کوسو سیاسي مشرانو په عملي توګه په یو نه ماتیدونکي تسلسل د زړۀ له اخلاصه سره خپل جهاد جاري ساتلے دے، او د خپلو کوټلو او ټاکلو اصولو په سنګر باندې پاخۀ ولاړ پاتې شویدي په هغو کښې د خان لالا نامه په سر کښې راځي.

د قامي سطحې د یو ښلي شوي لیډر په حیثیت کۀ هغه یو خوا د پاکستان د هرې علاقې د زېلو طبقو د جمهوري او ائیني حقوقو د پاره د حق او صداقت نعره پورته کړې ده نو بل خوا هغه د هغو خلقو د بې ارزې ژړا هم په وار کوسي زړلې ده د هغوی د پاره ئې د انصاف غوښتنه کړې ده د کوسو سره چې د هغه علاقه ده، په بنیادي ډول افضل خان یو کوټلے پښتون فطرت لري. او د غه پښتون سراج عمر له په خپلو ائیني حدونو دننه د پښتنو د حقوقو او د هغوی د ملي او کلتوري تشخص د بقاء د پاره جنګیدلے دے.

په روانه پېړۍ کښې چې پښتون قام د سیاست په میدان کښې کوم نوسوري مفکرین رازېږولي دي. د افضل خان نامه په هغو کښې ډېره هسکه او جوته ده.

خان لالا وخت په وخت هم د تقریر او هم د تحریر په ژبه د تاریخي

نور په دریم مخ

## پاتې:: قامي وحدت

شواهدو او الیني حوالو په ذریعه په پاکستان کښې د خپل قام د پاره د یو باعزته ژوند او مقام ارزو کړې ده او د هغه د افکارو ځنې نادرې نمونې د کتابونو او پمفلیټونو په شکل کښې زمونږ د نظر وړاندې راغلي دي.

په دغه لړ کښې داورو کښے خوندې کتاب «قامي وحدت» د افضل خان د بشپړې مطالعې په تناظر کښې د هغه د رسا فکر یو بل ژوندے ثبوت دے. دا په یو شکل کښې د پښتون اولس په تېرو د خوږ تاریخ او د پښتنو د کلتوري اقدارو یوه لنډه بېړه هم ده او د هغوی د شاندارې ماضۍ او روښانه مستقبل په حقله د یو لیکلي دستاویز په شکل کښې یوه کوټلې سیاسي مفکوره هم.

د پښتنو د اصل نسل په باره کښې کښې نظرئې وړاندې شو یدي او دې کښو خبرو خبره دې حد ته راوسته چې پښتانه یو نۀ بلکې یو ملت دے، څوک چې د لته راغلي وي په دې کلچر او روایاتو کښې ورک شوې وي. پښتانه هر څوک چې دې وي په دا د محققینو سر خوږے دے خو پښتانه اوس پښتانه دي یوه ژبه یو کلچر لري او په فطري توګه د یو جغرافیائي وحدت خاوندان دي.

افضل خان خپله دې کتابچه «د پښتنو قامي وحدت» کښې خپل سیاسي فکر چې په کوسو تاریخي تسلونه، جغرافیائي او اقتصادي دلائلو او تجربې سره وړاندې کړے دے یوه ډېره علمي ژورتیا او ادبي خوږ والے لري. او د شعور او فهم په رڼکه ډېر په اسانه زرغونیږي څو خبره د نتیجو د تر لاسه کولو ده، د پښتنو بې اتفاقي یو تاریخي صداقت او نسلي مرض دے. د بایزید روښان نه راواخله تر باچا خان پورې د دې مرض علاج ډېر کوششونه وشول خو مریض لا هغسې په کټ پروت دے. په موجوده وخت کښې هم د وخت طبیبان د دې رنځور په علاج بسې دي خو دا پته نۀ لګي چې مریض به ښۀ شي او کۀ نه، د هغه د درمان په ارمان کښې به طبیبان هم په کټ پریوځي.

اتوار (یکشنبه) ۳۱ اگست ۱۹۹۷ء

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

ABC CERTIFIED

پۀ ټول ملک کښې د پښتو ورومبۍ ورځپاڼه

MEMBER APNS

ورځپاڼه پېښور

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

# وحدت

چیف ایډیټر: پیر سفید شاه همدرد

د پنج شنبې (زیارت) ورځ، ۹ دوېمه خوره ۱۴۱۸ هـ ق، ۲۳ زمرے (اسد) ۱۳۷۶ هـ ش، 14-اګست 1997ء، 30 پشکال 2054ب، جلد12، شماره219

## پښتانۀ یوُ د بل نه بېل نۀ شي پاتې کیدے، افضل خان

### دافغانستان موجوده حالاتو د پښتنو د قامي وحدت لارېرانستي ده، د تباهي پۀ نتیجه کښې نزدې شول

### پښتون نۀ صرف مذهبي وحدت بلکې علاقائي او کلتوري وحدت هم دے، خپل ځان به ا روسرو ګڼي

پېښور (پ ر) د پښتونخوا قومي پارټۍ مشر قام پرست لارښود او پخواني وفاقي وزیر افضل خان وئیلي دي چې دافغانستان موجوده حالاتو د پښتنو د قامي وحدت لار پرانستې ده. پښتانۀ پۀ هرلحاظ د یو بل نه بېل نۀ شي پاتې کیدے. پرون یو بیان کښې ده ووئیل چې دا د فطرت قانون دے چې دهرې تباهي پۀ شا دابادۍ یو داسې رازپټ وی چې پۀ ورسبي نظر کښې د هغې

پاتې صفحه اخر دریم کالم

**پاتې:: افضل خان**

ابادی تصور هم نۀ شي کیدے. خو وخت سره دا خبره ثابته شي چې الله تعالٰی پۀ خپل هرحکم کښې د انسان د ښیګړې راز پټ ساتي همدغسې پۀ افغانستان کښې هم وشو. ده ووئیل چې د تیرو اتلسو کالو پۀ اوږده موده کښې پۀ زرګونو ماشومان یتیمان، بې شمیره میندې بورې او ګڼې زنانه کونډې شوې. د افغانستان ګڼ خلق خپل کور کلی نه لرې پۀ پردو ډاګونو کښې میشته شوولې دافغانستان د دغې تباهي پۀ نتیجه کښې پښتانۀ یو بل ته نزدې شول. دیو بل پۀ درد دردمند شول او نن پېښور او د پښتونخوا پۀ نورو علاقو کښې افغانان خپل ځانونه بې کوره نۀ ګڼی ده ووئیل چې

دافغانانو دا احساس پۀ دې اساس دقدرور دے چې دا ټوله پښتونخوا دافغانانو د پلار نیکه زمکه ده. نو پۀ خپل کور کلي کښې بايد چې څوک ځانته مسافر ونۀ وائي. ده ووئیل چې پۀ عالمي سطحه د پرله پسې انقلابونو پۀ ترڅ کښې اوس دا خبره واضحه ښکاري چې پښتون قام به هرو مرو یوه ورځ د خپل قامي وحدت مرام ته رسیږي ځکه چې پښتون د یو وحدت نوم دے. دا نۀ صرف مذهبي وحدت دے بلکې علاقائي، کلتوري وحدت هم دے. خان لالا ووئیل چې زمونږ اوس هم عقیده ده چې د پښتون وحدت یو بل نه لرې نۀ شي پاتې کیدے. دا وحدت د یو سازش ترمخه ټوټې ټوټې کړے شوے وو. او د دوی پۀ سرې ئې چې د ډیورنډ کرښې پۀ نوم کومه کرښه راښکلې وه اوس د دغې کرښې څۀ قانوني او اخلاق حیثیت نۀ دے پاتې شوے. ده ووئیل دحالاتو بدلون د دې اشاره کوي چې پښتانۀ به هرو مرو خپل ځان ګڼي او خپل قامي وحدت به ترلاسه کوي

وحدت

Oktober 2003

# قام پرست مشر ډاکټر کبیر ستوری پېښور ته راغلو

## پښتو عالمي کانفرنس او د پښتنو په نمائنده جرګه کښې به ګډون کوي

پېښور (وحدت خبر) په المان کښې د پښتنو د جذبو ترجمان د ټولنيز اولسوليز ګوند مشر او د ساپوهنې ډاکټر ښاغلی عبدالکبير ستوری پېښور ته را رسيدلی دی. دوی سره د نورو قامي فکر لرونکو نه علاوه شيرين ګرديوال هم سلګري و. نوموړی کبير ستوري يو ډير ښه شاعر او قامي فکر لرونکی دی. تر اوسه د دوی د شاعری

پاتې صفحه ۵ کالم ۲

### پاتې :: ډاکټر کبير ستوری

دوه کتابونه د «قلم توره» او «ژوندی خيالونه» په پښتو شاعری کښې د قدر اضافې دی. د دې نه علاوه د ساپوهنې په موضوع د دوی ليکلی کتابونه «ويره»، «د هوښتيا رتيا تله» او ژبساپوهنه په پښتو ادب کښې پنځې انفرادی کوششونه دی. ښاغلی ډاکټر کبير ستوری د پښتون قام د سلی يو وال او وړاندې تګ هيله من دی. دوی به خپلو نورو راغلو ليکوالو سيلمنو سره د پښتو په عالمی کانفرنس او بيا وروسته د پښتنو په نمائنده جرګه کښې ګډون کوي.

# وحدت

چیف ایډیټرو پبلشر سید شاه محمود ورځپاڼه "وحدت" د پاکستان د حکومت په تصدیق د وحدت پرېس خیبربازارپېښور نه خپرږي، ایډیټر سید حمدل شاه
ایډیټر ظفر علي شاه ګیلاني، پته: ورځپاڼه وحدت، ۲ اسلامیه کلب بلډنګ
خیبربازار پېښور ـ فون: ۲۱۴۰۳۴ ۲۱۴۱۵۴ فیکس ۲۱۴۳۳۱
Emile: wahdat@pes.comsats.net.pk

04. Feb. 2002

دوشنبه (پیر) ۴ فروري ۲۰۰۲


## ذکر دیو ادبی، ثقافتي او سیاسي تقریب

### سپینې سپېنې



سید صابر شاه صابر

قدرمن ډاکټر
کبیر ستورے د افغانستان په
هغو لیکوالو، هغو مرونو
کښې شمارېږي چې د سر نه
تر پښو تول پښتون پښتون
دے هغه که په وطن کښې و
او که د وطن نه اوس بهر دے
د ژوند تر ټولو لوئې مقصد
او مدعا ئې هم دغه ده چې
کله به وی چې د پښتو په
سپور سپېره اوربل هم
د دوستۍ او مستۍ وږمه
وږمه شمال والوزی. کله به
وی چې د میرویس بابا په
شاره تراږه. سوې لوئې
خاوره به د خوشحالیو،
تابانیو، دارې دارې وړانګې
خورې شی، قدرمن په خپل
ذات کښې دیوې ادارې او
انجمن حیثیت لری ادب او
سیاست خپلو کښې "توك او
اوری" ګڼی، په ادب کښې
د ژوند د فکر سرخیل دے

ډېلا ډېرو ورو لویو کتابونو
خالق دے لکه "د قلم توره"
"ژوندی خیالونه" "د وېرې
تله" "پښتونخوا" "سکروټه"
"ژب ساپوهنه" "
دهوښیارتیا تله" او نور خود
هغه په ژوند او شخصیت
کښې چې تر ټولو لوئې
صفت زه وینم هغه دا دے چې
نه صرف بهر ئې د پښتو
نغاره ډنګولې ده بلکې اول
ئې په خپل کور کښې هم په
خپلو خلقو د پښتو عظمت او
حیثیت منلے دے لکه زمونږ
د دې خنو خنو مشرانو په
رنګ نه دے چې تول ژوند
او ذات ئې د تضاداتو ائینه
وی. د موصوف خوش بختی
ده چې د هغه بچی هم د هغه

هومره لوئې پښتانه دی په
خپله ژبه خپل ثقافت خپل
شناخت له سرو ماله تیر دی
په موجوده وخت کښې زه
دلته په پېښور کښې دوه

داسې کورنۍ وینم چې
هغوی د خپلو مشرانو
د نیشت باوجود د هغوی
دوستانو او تعلق دارو سره

دهغوی نه هم مضبوطه راشه
درشه پالی. بلکې د رسول
پاك ص په دې حدیث چې "
تاسو د خپلو خپلوانو او
مشرانو دوستانو سره تعلق
ساتئ" چا زیات عمل کړے
دے نو هغه یو ډاکټر بصیر
بیدار ستورے (د کبیر
ستوری زوې) او بل د زرین
انځور ورور عزیز خان (او
دهغه نور ورونه هم چې دا
وخت ئې زمانه نامې له
خیاله وتی دی) مودې مودې
وشوې چې کبیر ستورے او
ملګرے انځور په وطن نشته
خو دهغوی د دې کشرانو له
برکته د هغوی د ملګرو
دهغوی سره هم هاغسې
تماس او رابطه ده لکه پخوا
چې وه.

د روان کال
د جنورۍ په دولسمه نیټه
نور په څلورم مخ

پاتې :: سپینې سپېنې

مازیګر بصیر بیدار دوکان
ته راغے یو کارډ ئې راته په
ګوتو کښې کیښود، وې "هن
صابر شاه" دا واخله دکشر
ورور مې واده دے چې په
اتلسمه نیټه ماښام به په
ارباب روډ مارکوپولو
ریستورنټ ته ضرور راځې"
زه داسې پروګرامونو ته ډیر
خوشحالیږم او کوشش کوم
چې پکښې شرکت وکړم او
د دې دوه وجې دی یو خو
هغه د غلام سخی استاد
خبره "خیته پکښې غوړه
شی" او بل په دغسې
موقعو ډیرو هیرو تیرو او

درنو درنو هستیو سره لیده
کاته وشی یو څو لمحې
د دنیا د جنجالونو نه
فکرونو او شور ماشور نه په
سکون، ازادۍ او بې غمۍ
تیرې شی، او بیا د ښاغلی
نسیم خان ستوری په واده
کښې خو باوجود دهغه
د نوموړی پلار په غیر
موجودګۍ کښې دومره زړې
زړې، درنې درنې، ادبی،
ثقافتی او سیاسی هستۍ
راغلې وې چې مانې سیال
او مثال په دې نزدې کلونو
کښې په یو تقریب کښې هم
نه دے لیدلے. "مارکوپولو

بلیو پیلس" ډیر لوئې ډیر
ښائسته هال دے (یقینا چې
ډیر ګران به هم وی) د نشتر
هال نه هم لوئې او ښائسته
هال، دا هال د خلقونه ډك و
دهر چا په شونډو د خنداګانو
او مسرتونو سپرلی ګډیدل،
په اوو بجو د موسیقی
پروګرام شروع شو د نظامت
واګې اباسین یوسفزی ته
وسپارلے شوې او اباسین ډیر
په ښه شان د روند انداز دغه
خپل فرائض ترسره کړل وار
په وار به ئې د خوږو
خوږو شعرونو سره فنکاران
راغوښتل خیال محمد،

سیداګل مینا، او ګلزار
عالم هر یو د خپلو
اوازونو د سحر په غېږو کښې
د محفل د محبت رنګونه
واخسته، خو زما د ګلزار
عالم مجلس ډیر خوښ
شو. هغه هسې هم هر ځائې
منفرد وی پوخ او په ټول
پوره مجلس کوی. او چونکې
دا زیات د سنجیده خلقو
محفل و دلته زیات علمی
ادبی شخصیات او مشران
ناست وو لکه ارباب سیف
الرحمان خان، افضل خان
لاله، حاجی غلام احمد
بلور، ډاکټر راج ولی شاه

پاتې برخه بله پاڼه کې

وحدت

چیف ایډیټرو پبلشر پیر سید سفید شاه همدرد ورځپانه "وحدت" دپاکستان دحکومت
په تصدیق دوحدت پریس خیبربازارپېښورنه خپروي، ایډیټرپیررحمدل شاه
ایډیټر: ظفرعلي شاه ګیلاني، پته:: ورځپانه وحدت ۲۰ اسلامیه کلب بلډنګ
خیبربازارپېښور فون : ۲۱۴۰۳۴ ۲۱۴۱۵٤ فیکس ۲۱٤۳۳۱
Emile: wahdat@pes.comsats.net.pk

دوشنبه (پیر) ۴ فروري ۲۰۰۲

# ذکردو ادبي، ثقافتي او سیاسي تقریب

لیک : سید صابر شاه صابر

04.Feb.2002

— پاتې برخه —

خټک، حبیب الله رفیع، اجمل خټک، ارباب الطاف (دتاکال نائب ناظم) ارباب دوست محمد خان پروډیوسر شوکت علي، فضل رحیم مرومت، لائق زاده لائق، قیصر خان ایډوکیټ، شمس الهدی شمس، اسد ساپي، بریالے باجوړے، رحمت شاه سائل، سیدولي خیال مومند، شاهین بونیرے، هدایت الله ګل، اباسین یوسفزے، ارباب نثار خلیل، ارباب همایون خان اونورو ګڼو لویو وړو سپکو درنو پښتنو په دغه تقریب کښې شرکت کړے و. نو په داسې ځائې او موقعه هم دغسې "غزلیزې" موسیقي مزه کوله. دموسیقي په دوران کښې قدر من اجمل خټک، غلام احمد بلور، او افضل خان لاله دپټ او پښتو پګړې نسیم خان ته په سر کړه کومه چې بیا هغه تر اخره په سر ساتلې وه ډیر ښه او ډیر ځرونده ورسره ښکاریدو

دماسخوتن ډوډۍ هم ډیره درنه وه دومره درنه چې ډیري اوږې اوږې سترګې ئې هم مړې کړې

زه چې په دې پروګرام کښې ناست وم نودلرې او برې پښتونخوا ترمنځه عرضي مرضي، استعماري تورې تورې دیوې صدۍ کرښې مې دفکر او احساس تازه تازه بادونو تالاترغه کړې نن تول پښتانه یو شوي وو تول په یو لباس، یو سوچ، یو ژبه، یو ملت، متفق وو دټولو په خلو، ټولو په شونډو هم دا یوه خبره یو نعره وه چې:

مونږ ټول یو ، یو
دخپلې ژبې دعظمت او حیثیت په خاطر
دخپل قام دمرام او مقام په خاطر
دخپل وطن دابادۍ او ښیرازۍ په خاطر
دخپل تاریخ خپل ثقافت دشناخت او ساخت په خاطر
او دخپل رڼا رڼا ستوری ستوری مستقبل دهیلو جذبواو تلوسو په خاطر!

—

ABC CERTIFIED

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

MEMBER APNS

په ټول ملک کښې د پښتو وړومبۍ ورځپاڼه

ورځپاڼه

پېښور

# وحدت

چیف ایډیټر

پیرسفید شاه همدرد

رجسټرډ پي نمبر 27

پنجشنبه (زيارت)، 25جمادي الثاني، 1422 هـ ق، 22سنبله 1380هـ ش
13ستمبر 2001، 31 بادرو، 2058 ب، جلد 26، شماره 250، بيعه 4روپۍ

## د کبیر ستوري "ویره" کتاب چاپ شو

په انساني ژوند کښې هاغه احساس چې لاشعوري طور راپيدا کيږي او بيا په ذهن او اعصابو دومره زور اثر کوي چې انسان ته دژوند شپې سبا کول گران شي ډاکټر کبير ستورے دنفسياتي د يوپوه ډاکټر په حېث




په دې کتاب کښې دويرې دمختلفو وجوهاتو او اړخونو جاج اخلی ، او چې کوم خلق دويرې په مرض کښې اخته دی هغوی ته دمکمل علاج لارې په گوته کوی "ويره" دلوستونکو دويرو غوښتنو ترمخه په درسم خل "خټيخ بيارغوني ادارې" لخوا "ډاکټر محمد فريد بزگر په اهتمام چاپ شوې ده دويرې په موضوع داگته ورکتاب ستاسو په هر ارخ رهنمـ"ى كولے شى مناسبه بيعه اوغوره چاپ

د کبیر ستوري ژبساپوهنه - پاتې برخه -

خپلې ژبې او کلتور څخه بلکل پردے شوے و، په پښتو هیڅ نه پوهیدو او په فارسی غږیده، پخپله خلوېښت کاله باچاهی کښې ئې هڅه هم نه ده کړې چې څو ټکی پښتو یاده کړی، حال داچې په افغانستان کښې د ټولو میشته لږه کیو قومونو (ازبکو، ترکمنو، تاجکو، هزاره او نورو) له مجموعې څخه پښتانه زیات وو. که دظاهر شاه د باچاهی وخت په پام کښې ونیسو نو په دغه وخت کښې په نړۍ کښې ستر بدلونونه راغلی دی چې د پښتو د قامی وحدت په بشپړتیا بې اغیزې نه و. دویمه نړی واله جګړه پای ته ورسیده د ملګرو ملتونو موسسه (اقوام متحده) جوړه شوه، انګلستان د هند دنیمې وچې څخه وتلوته مجبور شو، دپاکستان اسلامی جمهوریت په کال 1947ء کښې جوړ شو. د پښتون قام نیم وجود په پاکستان کښې پاتې شو. سمه لار خو داوه چې افغانستان او د پاکستان اسلامی جمهوریت یو بل ته نژدې شوے وے. چې دواړه اسلامی هیوادونه وو او ډیر څه نور ئې هم سره شریك وو. خو ظاهر شاه یو دوه مخے سیاست پیل کړ. له یوې خوا ئې د پښتنو ویش ومانه، په پاکستان کښې ئې سفارت او قونصلګری جوړه کړه او له بلې خوائې ورسره دښمنی راواخیسته او

ویل به ئې چې په پاکستان کښې ددیره پښتنو یعنی نوې برخې پښتنو حقوق غواړو چې د پښتونستان په نامه خانته ملك جوړکړی. او د افغانستان نه بیل نه وی دغه رنګ د پښتونخوا په اړه لیکی" پښتانه له پیړیو راسې خپل تاتوبی او وطن ته چې پیدایشی (قدرتی-فطری) دحدت. دے. پښتونخوا وانې او پښتونخوا د پښتنو د تاتوبی اولسی نوم دے حکومتونو ته هم پکار دی چې ددې خاورې سرکاری نوم هم پښتونخوا کړی، که چیرته دخپلو اولسونو د قامونو نمائندګی کوی. لنډه داچې د ستوری صیب دا کتاب د لوستلو سره اړه لری او ددې د اهمیت پته هم د لوستلو نه وروسته لګی. لیکل ئې په کمپیوټر او برنی املاء باندې شوی دی. چې د ډیرې تندی نه پکښې لفظی غلطیانې زیاتې بریښی. سر پانه ئې ډیره ښکلې او زړه راښکونکې ده ترون ئې د پښتو ژبی دانقلابی او خوږ ژبې شاعر رحمت شاه سائل په نوم شویدے او په وروستې پانه کښې د ستوری صیب او سایل صیب په ګډه یو عکس چاپ دے د کتاب په اول سرکښې د پیښور یونیورستی د ژورنالیزم د ډیپارټمنټ مشر ښاغلی ډاکټر شاه جهان یوه په زړه پورې سریزه لیکلې ده او بیا په یو سل او څلوېښت مخونو مشتمل کتاب دے

په 145 مخ باندې د" خوښه او مننه" پر سر لیك لاندې ښاغلی کبیر ستوری صیب له ښاغلی نسیم خان ستوری، امیر کروړ ستوری، عبدالنصیر نصیر، عزیز سرشار، محمد شیرین ګردیوال، هدایت الله خان بنګش، ډاکټر محمد فرید بزګر، نعمت الله رسولی، لائق زاده لائق، عبدالنصیر بیدار او ننګیالی میر داد خیل څخه خوښه او مننه کړې ده . په 147 مخ ښاغلی لایق زاده لایق د " اعزاز" تر لاس لیك لاندې لیکل کړی دی. او دغسې کتاب پای ته رسیدلے دے.

وحدت
ورځپاڼه
پېښور
THE DAILY WAHDAT PESHAWAR
دوشنبه (5) 8 جنوری 2001

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

ABC CERTIFIED

په ټول ملک کښې د پښتو د رومبې ورځپاڼه

MEMBER APNS

ورځپاڼه پېښور

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

# وحدت

چيف ايډيټر: پير سفيد شاه همدرد

(سه شنبې) ورځ ۱۰ د ربيع خور ۷، ۱۴۱۷ ه ق، ۳ تله (ميزان) ۱۳۷۵ ه ش، ۲۴ ستمبر ۱۹۹۶ء، ۸ اسوج ۲۰۵۳ ب، جلد ۱۱، شماره ۲۵۸

سه شنبه ۲۴ ستمبر ۱۹۹۶ء

## د وفاقي وزير محمد افضل خان د ورور په مړينه د کبير ستوري غمرازي

پېښور (وحدت خبر) د پښتون سوشل ډيموکريټک ګوند المان مشر کبير ستوري د کشمير او قبائلي چارو د وفاقي وزير او د پښتونخوا قامي پارټۍ مشر محمد افضل خان د ورور محمد عالم خان په مړينه خپله ژوره غمرازي ښکاره کړې ده او د مرحوم د مغفرت د پاره ئې دعا کړې ده. کبير ستوري د مرحوم په مړينه د ده خپلوانو او خصوصاً محمد افضل خان سره خپله خواشيني څرګنده کړې ده. او د پسماندګانو د پاره ئې د صبر غوښتنه کړې ده.

ABC CERTIFIED
THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN
MEMBER APNS

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبی ورځپاڼه
ورځپاڼه پېښور
# وحدت
چیف ایډیټر
پیرسفید شاه همدرد
رجسټرډ پي نمبر 27

شنبه (خالی) ورځ 21 شعبان المعظم 1424ھ ق، 25 تله (میزان) 1382ھ ش
18 اکتوبر 2003ء، 30 اسو 2060 ب، جلد 28، شماره 286، بیعه 4 روپۍ

## دپښتنو په ژوند تقسیم بد اثر کړیدے، کبیرستورے

**د نړۍ ډیر ویشل شوی قومونه بیرته یو ځاې شول خو پښتانه تراوسه جدا دی**

پېښور (وحدت خبر) د نړۍ ډیرویشلی قومونه بیرته سره یوځاې شوی دی خو پښتانه تراوسه جلا پراتهٔ دی چې په پښتون قوم دغې جلاتوب ډیر بد اثر کړے

پاتې صفحه 5 کالم 6

**پاتې: کبیرستورے**

دے جرمنی کښې دپښتنو دټولنیز اولسیز گوند مشر ډاکټر کبیرستوری دا خبرې د افضل خان لاله لخوا د ډیورنډ په کرښه جوړ شوی سیمینار ته خپل خطاب کښې کړیدی دهٔ ووئیل چې تاریخ کښې ډیرپښتانهٔ بادشاهان تیر شوی دی خوپښتو ژبه نې رسمی او نه دفتری کړې ده. دهٔ ووئیل چې داسې پښتانه شته چې تراوسه پښتو او خپله ژبه نه پیژنی. د انزوا حالت کښې پراتهٔ دی. دهٔ ووئیل چې کله روسانو په افغانستان یرغل وکړو نو پاکستان ته افغانانو هجرت وکړو چې دې سره دلرو برپښتنو ترمینځ محبت اویو والے رامینځ ته شوے دے دهٔ ووئیل چې دپښتنو ترمینځ د یووالی دپاره لازمه ده چې د ټولو په نمائندگی یوه جرگه جوړه شی ترڅو د دواړو خواؤ ترمینځ اړیکې ټینگې کړی

پښتو پرون، نن او سبا - پاتې برخه

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN
پہ ټول ملک کښې د پښتو ورومبۍ ورځپاڼه
MEMBER APNS
ABC CERTIFIED
پښتو ورځپاڼه
وحدت
THE DAILY WAHDAT PESHAWAR
چیف ایډیټر: پیر سفید شاه همدرد

کړیده دمقالونګارانو نوم‌ونه دادی.

محترم همیش خلیل، سر محقق عبدالله بختانی، ډاکټرشیرزمان طائزے، سلیم راز، سعدالدین شپون، محمداصف صمیم، ډاکټرمیاسهیل انشاء، (دوه مقالې) ډاکټر شاهجهان کاکاخیل، ډاکټراقبال نسیم ختک، ډاکټرراجولی شاه ختک، طاهر اپریدے، داورخان داود، درویش درانی، ډاکټر یار محمد مغموم، عمرګل عسکر، افضل شوق، خواجه محمدسائیل، قمرزمان قمرطائزے غازی سیال، ډاکټر سیدچراغ حسین شاه، رحیم شاه رحیم، پروفیسر محمود ایاز، عارف تبسم، صادق ژړک، حنیف خلیل، روښان یوسفزے، تاج انور، اعجاز خټک، فیض الوهاب فیض، لیاقت امین، پرویزمروت، محب وزیر، قمر صحرائی، اقبال حسین افګار، اسیرمنګل اوسلیم بنګش.

دلته مادمقالو سرخطونه ذکر نه کړل خکه چې دې سره یوخودامقاله طوالت مومی اوبلخوا داچې لوستونکو ته دمقالو دسرخطونو نه څه فائده نۀ رسی ترڅو چې هغوی دامقالې خپله لوستې نه وی که چرته ګرانو لوستونکیو داکتاب ترلاسه کړو او هغوی دامقالې خپله ئې ولوستې نوهغوی ته به داخبره ښکاره شی چې ماضی کښې دپښتوژبې او ددې په واسطه دانسانیت څومره خدمت شویدے نن پښتوژبه په کوم مقام ولاړه ده اومستقبل کښې چې دې ژبې ته کوم حالات مخې ته راتلونکی دی پوهانو هغې دپاره کوم تجویزونه وړاندې کړیدی.

اخر کښې زۀ اسیرمنګل، سلیم بنګش اودپښتوادبی چمن نوروملګروته مبارکی ورکوم او دهغوی ددې زیارمننه کوم چې یوداسې ښکلے اوبامقصده کتاب ئې پښتون اولس ته وړاندې کړو زۀ داکتاب دپښتوژبې داسې خدمت ګڼم چې نه یوازې پرې دپښتوژبې پنګه درنه شوه بلکې دې کتاب دپښتوادب طالب علمانو دپاره دتحقیق په میدان کښې ډیره اسانتیا هم پیداکړه اومحقیقنو دپاره ئې نوې لاره پرانسته.

قافله دې اوس روانه بې خطروی
مونږبل کړی څراغونه دی په لاره

پښتو کانفرنس

# پښتو کول د هر پښتون بنيادي حق دے

د کوم قوم خپله ژبه سپکه شي هغه قوم سپک کيږي، پښناخت ئې ژبه، تاريخ او نوم وي

شاعران او ليکوالان بايد د قلم په زور د قوم خدمت ته سلا وتړي، د پښتونولي سورچه دې تينګه وساتلے شي

پښتو دې تېر ک پورې د تعليم او د پښتونخوا سرکاري ژبه وګرځولے شي، د مقررينو وينا

پېښور (جمال کوتوال) د پښتو دوئم نړيوال کنفرانس پرون هم په خپل ځانګړې برم سره د پېښور په نشتر هال کښې د ګڼو پوهانو، عالمانو، اديبانو، ليکوالو شاعرانو، خبريالانو او هنرمندانو په ګډون چې د بيلا بيلو ېوادونو څخه راغلل شوي دي، دوام وکړو او د پښتو ژبې د پياوړتيا ادب او ثقافت په اړه علمي مقالې ولوستل شوې او بولے قراردادونه او وړانديزونه وشول. د پرون ورځې د غرمې نه مخکښې غونډې صدر سليم راز، مشر ميلمه سعيد الدين شپون او کوربه اسفنديار ولي وو. د غونډې کار د قران کريم د خوښار کوا باتونو په لوستلو سره پيل شو او په ترتيب سره سيا عبدالرحمان، ډاکټر راج ولي

باقي صفحه ۵ کالم ۲

باقي :: پښتو کانفرنس

شاه خټک، ودود اشنغري، پروفيسر طٰه خان، ډاکټر سراج، لياقت امين نعيم افريدی، وقاد علي شاه، علي اکبر سيال، سعيد الدين شپون او اسفنديار ولي شعرونه او مقالې ولوستې او د دوئم نړيوال کانفرنس په اړوند ئې مطالب څرګند کړل. ويناوالو په خپلو خبرو کښې ووئيل چې پښتو کول د هر پښتون د پاره بنيادي کار دے. پښتانهٔ به پښتني خاوره پښتو کوي او د پښتونخوا د نوم تر منلو پورې به خپلې مبارزې ته دوام ورکړي. د قوم شناخت خپله ژبه، خپل تاريخ او خپل نوم دے. په کوم قوم چې خپله ژبه سپکه شي هغه قوم سپک کيږي او د هغه قوم نه چې خپله ژبه ورکه شي هغه ورک کيږي. ويناوالو به تينګار سره ليکوالو او شاعرانو ته جوته کړه چې د ژبې او قلم په زور باند د پښتون قوم خدمت ته سلا وتړل شي او د پښتونولي سورچه تينګه وساتلے شي. دغه راز د دوئم نړيوال کانفرنس د غرمې نه وروسته غونډه کښې چې مشر ميلمه پکښې پروفيسر رب نواز مائل او کوربه شاکر رحمان وو به وار سره ډاکټر شاه جهان سيد، ډاکټر سهيل انشاء شاهد علي شاهد، عبدالرحيم مندوخيل، شباب بونيري، مېجر محمد نواز، نور رحمان ليوال، ګل جان وردګ او جلال خټک شعرونه او مقالې ولوستې او د پښتو ژبې د پراختيا تعميم او ترويج او په مورنی ژبه کښې د زده کړې په اړه ټينګار وشو. دغه راز د پرونيو غونډو په جريان کښې د دوئم نړيوال کانفرنس د جوړېدو په مناسبت د شهيد بهمد غنوی بهتو او د افضل خان لالا د پښتونخوا قومي پارټۍ لخوا د مبارکۍ پيغامونه هم ولوستل شول چې په تودو احساساتو سره بدرګه کړے شول. د کنفرانس ويناوالو به خپلو خبرو کښې ووئيل چې دوئم نړيوال کانفرنس باند په راتلونکی کښې د يوې غښتلې ادارې په توګه خپل فرهنګی کار ته دوام ورکړی کتابونه چاپ کړی او يوه رساله يا جريده هم ولري. همدا رنګه په اخبارونو او راديو ګانو کښې د پښتو د ضرورت په څرنګوالي خبرې وشوې او موجوده پروګرامونه ناکافي وبلل شول. د کنفرانس ويناوالو به ټينګار سره ووئيل چې پښتو دې تر ميټر که پورې د تعليم ژبه شي. پښتونولي د يو قانون په توګه د دې وړ ده چې دغه ژبه پياوړې او

پراخه شي ژبنه کولے هم شي. ثقافت پېژندل ک دي د پښتونخوا دغه راز په قرا

افغانستان په اړه هم څرګندونې وشوې او په کلکه سره ل شول چې په افغانستان کښې باند د جنګ بل کړے شوے او رسې کړے شي او د يوې سوله ايزې لارې پيدا کولو سره دي لازم اقدامات په نظر کښې ونيول شي. د وحدت ورځپاڼې خبريال د موقع نه په استفادې سره د کنفرانس په څنګ کښې د کنفرانس د برخه والو د ځو تنو سره مرکې ، کړي دي او نظريات داسې څرګند کړي دي. ميرمن نسيم ولي خان ووئيل پښتو يو وجود دے پښتو يو عمل دے، پښتو يو قوم دے، پښتو يوه پښتونولي ده او پښتو د دنيا په مخ يو قوم دے چې خپله ژبه ئې راخستې ده او خپل ثقافت او ژبه ئې پيژندلې ده. دې ووئيل د پښتو نړيوال کنفرانس يو مهم قدم دے زما په خيال په دې کنفرانس کښې چې کومې علمي مقالې او قراردادونه پيش کړے شول او. دا په خپل وخت عملي شی دا به د پښتو ژبې او پښتونولي ته غټه ګټه ورسوی او په نړۍ کښې به نوره هم دغه لرغونې ژبه وپيژندلے شی. پښتو يوازې ژبه نهٔ ده يو عمل هم دے. ډاکټر کبير ستوري چې د پښتو دوئم نړيوال کنفرانس ئې د پښتو ژبې د پراختيا او پياوړتيا د پاره يوه مهمه وسيله وبلله او وې وئيل په دې کنفرانس کښې مو د ليکوالانو او سياست دانانو مقالې او وېناوې واوريدې ادب او سياست څوک بيلولے نهٔ شی. ده ووئيل اساسي مسئله دا ده چې پښتانهٔ به سلو کښې اوويا د بوونې او روزنې څخه بې برخې

باقي دي./همه خبره دا ده چې ښوونځې ورته جوړ شي او پښتو د تعليم او سرکار ژبه شي. ژبه يوازې د پوهولو راپوهولو وسيله نهٔ ده بلکې دا د سوچ او فکر يو شکل دے څوک چې په پردی ژبه زده کړې کوی په دې معنی ده چې د زده کوونکی فکر هم ورسره پردے کيږی. نيک محمد غازی زوی ووئيل سا په دوئم نړيوال کنفرانس کښې ډيرې خبرې واوريدې او ښهٔ پښتنې احساسات پکښې څرګند شول خو يوه خبره چې زه ورته د انتقاد ګوته نسيم هغه دا ده چې په دې مقالو او خبرو کښې سمه او سوچه پښتو نهٔ وه او تقريباً په سلو کښې شل پکښې انګريزی وه ... او ويناوالو د سوچه پښتو خيال نهٔ و ساتلے د پروګرام چلوونکو د سوچه پښتو خيال نهٔ و ساتلے د پروګرام چلوونکو هم زياته انګريزی ژبه کاروله. ډاکټر طلا محمد خادم په دې نظر دے چې پښتو استعماری قوتونو لکه ايرانيانو او مغلو او انګريزانو ډيره ځپلې ده يعنی پښتانهٔ او پښتو ئې دواړه ځپلی دی. ده زياته کړه چې اوس پښتانهٔ متحرک شوی او په نړيوال ليڅ پوهه شوی دی. مطلب دا دے چې ولې . زمونږ ژبه داسې کمزورې شوه زمونږ ثقافت سره ولې ظلم کيږی به تی وی او ريډيو ولې پښتو د پښتو په تناسب ځکه ده نړيوال کنفرانس جوړ شو دا يوه لويه کاميابی ده خو په دې شرط چې کنفرانس کوم قراردادونه وړاندې کړی ، په يکړه ليک ئې عملی کړے شی

THE FIRST PUSHTO DAILY OF PAKISTAN

ABC CERTIFIED

په ټول ملک کښې د پښتو ورومبې ورځپانه

MEMBER APNS

بيعه څلور (4) روپۍ

ورځپانه پېښور

THE DAILY WAHDAT PESHAWAR

وحدت

چيف ايډيټر: پير سفيد شاه همدرد

د پنج شنبې (زيارت) ورځ ۳۰ زبرګه ۱۴۱۸ هـ ق، ۱۵ لړم (عقرب) ۱۳۷۶ هـ ش، 6 نومبر 1997ء، جلد12، شماره301

# دڙبې ارزښت

ليک: ډاکټر کبير ستورے

ژبه په انساني ژوند او د قام په ننګ ته راتګ او وده کښې مهم رول او غټ ارزښت لري. دڙبې په بنسټ قامونه يو د بل څخه بيليږي او توپير ئې کيږي. دڙبې په واسطه قامونه پيژندل کيږي او دقامي پيژند( قامي تشخص) خاکه ده. باچا خان چې هره خبره ئې د کانې کرښه ده په دې نښتون(ارتباط) کښې وئيلي دي چې، د يوه قام ژبه چې ورکه شي هغه قام ورک شي، او قام پيژند ئې ختم شي. ژبه په انساني ژوند کښې هم ډير ارزښت لري ځکه چې ژبه ديوې خوا د فکر د څرګندولو(پوهيدلو او پوهولو) وسيله ده او د بلې خوا ژبه دفکر(اند) يوه بنه يا څهره ده. ددې دپاره چې په دې خبره سونږ ښه پوه شو په يو مثال سره دفکر مهم اړخونه راپه ګوته کوو. مثال: کله چې سړے په ژمي کښې په حجره کښې د شپې ننخ اوده وي او سحر راپاځي او د حجرې څخه بهر راووځي او ووينې چې زمکه لمده ده نو ه فکر کوي چې د شپې باران شوے دے. که دې مثال ته ځير شونو وبه وينو چې سړي خپله باران ليدلے او حس کړے ئې نه دے خو د زمکې دلمدوالې په واسطه په دې پوهيږي يا خبريږي چې د شپې باران شوے دے. په نورو تورو سره فکرد ناسيده(غيرمستقيمې) پوهيدنې يا خبريدنې لري( پروسه) ده چې دادفکر يو اړخ دے. دغه ناسيده پوهيدنه يا خبريدنه دشيانو په منځ کښې داړيکو او د نښتونونو په بنسټ ولاړه ده. تل چې باران شوے دے زمکه ئې لمده کړې ده او ددغه نښتون څخه سړے خبر دے نو ځکه وائي چې دشپې باران شوے دے دلته دفکر بل اړخ راښکاره کيږي چې هغه عمومي والے دے يعنې دزمکې دلمدوالي او باران په منځ کښې نښتون عمومي خوي لري او د کوم يو خاص باران پورې دزمکې لمدوالے تړلے نه دے، هر باران زمکه لمدوي په نورو تورو سره داددې معنې لري چې دفکر په لړي(پروسه) کښې سونږ دشيانو ديوې ولې د عمومي خاصيتونو سره مخامخ يو. فکر ديوې ولې شيانو د عمومي خاصيتونو انعکاس او دشيانو په منځ کښې د عمومي نښتونونو او اړيکو سوندنه ده. دفکر په ناسيده توب او عموميتوب کښې دڙبې سره د فکر اړيکې پراته او نغښتلې دي. مطلب دا چې عمومي نومونه او لفظونه چې ديوې ولې شيانو د ګډو او مهمو خويونو ښکارندوي دي دفکر بنه يا څهره ده. د بيلګې په توګه د «کلک» لفظ د ډيرو شيانو خوی جوړوي چې سونږ دغه ټول شيان چې کلک دي ليدلے نه شو خو فکر ئې کولے شو. له دې کبله عمومي نوم يا لفظ د فکر يوه څهره ده.

فکر دڙبې په بڼه کښې ځان راښکاره کوي. هر فکر چې دانسان په سر کښې پيدا کيږي بې دڙبنې سوادو څخه منځ ته راتللے او پيدا کيدلے نه شي. داسې فکر چې دڙبنې سوادو څخه ازاد وي موجوديت نه لري. داچې په نړۍ کښې ډيرې ژبې شته دي او سړے هماغه يو فکر په مختلفو ژبو څرګندولے شي او فکر ثابت پاتې کيږي په دې واقعيت کښې کوم تغير نه راولي چې فکر بې د کومې يوې ژبې چې د فکر څهره جوړوي منځ ته راتللے نه شي. لومړۍ د فکر څهره په يوه ژبه کښې جوړه شي بيا په بله ژبه اړول کيږي. خو په مورنۍ ژبه دفکر بڼه ښه جوړيږي. دڙبې او دفکر اړيکې ديوې خوا

نور په دريم مخ

پاتې: دڙبې ارزښت

دڙبې دارزښت معنا لري او د بلې خوا داواقعيت راښائي چې هر څوک چې د انسان ژبه رسيدلې وي هغوي ته ئې فکر هم رسيدلې وي. ددې واقعيت په رڼا کښې دڙبې دودې دپاره کار پکار دے. دڙبې دودې او وزنې خاطر کوړنې، ښوونځي او پوهنتونونه دي نه دي کيله ددې هغه ضروري ده چې په ښوونځيو او پوهنتونو کښې بچيانو ته په مورنۍ ژبه پښتنو د زده کړې امکانات برابر شي. پخپله مورنۍ ژبه زده کړه نه يوازې د فکر چې د سړي توب کره برخه ده. د سيمې ودې معنا لري بلکې د قام د سوکالۍ او اباديۍ نښه هم ده چې د نورو قامونو سره ئې د سيالۍ جوګه کوي.

## *Кабир Стори*

## 1942-2006 г.

Родился 6 апреля 1942 г. в селе Танр в районе Хас Кунара провинция Кунар Афганистана. Начальное среднее образование он получил в сельской школе и закончил с отличием, и поступил в известный Кабульский лицей им. Рахмана Баба. В 1964 году закончил лицей и правительством Афганистана был отправлен в Германию для получения высшего образования. Продолжил обучение на факультете философии и психологии в Франкфуртском университете. Здесь он начал активно заниматься общественной деятельностью, создал афганскую студенческую ассоциацию в 1965 году, а в 1972 г. Союз всех афганских студентов в Германии. В 1973 г. основал и возглавил политическую партию под названием: Социал-демократическая партия «РСДП», в этом же году устроился на работу на радио немецкой волны в качестве главного редактора и ведущего языка пушту.

Цели и задачи партии: защита прав пуштунов, сохранение, развитие и пропаганда афганской литературы и культуры; объединение афганцев под единым флагом.

За активную политическую борьбу и пропаганду объединения пуштунов был осужден на 18 месяцев в Пакистанской тюрьме, но это не испугало и не остановило его, он продолжал бороться.

Кабир Стори был политиком, поэтом, писателем и журналистом, с 1965 – 2003г. возглавлял более 6 различных журналов и газет в Германии, был автором более 20 научных и просветительских книг и сборников собственных стихов, был учредителем и руководил различными объединениями и движениями. Создал международный интернет – сайт, которым пользуются тысячи людей во всем мире.

Скончался 4 апреля 2006 года в Германии в результате длительной болезни, а 7 апреля был похоронен в родном селе в Афганистане. На похоронах присутствовали и почтили его память многие известные общественно-политические деятели, ученые, поэты, писатели и простые граждане.

Кабир Стори умер, но его Память жива, о чем свидетельствует сегодняшний творческий вечер в его память!

Wahdat@pes.comsats.net.pk

مومنو د پاره هم الله کافي دے او هغه تر ټولو بهتر مدد ګار دے (القرآن)

Daily WAHDAT Peshawar

چيف ايډيټر
پيرسيد سفيد شاه همدرد

ورځپاڼه
وحدت
پېښور
پاکستان

ايډيټر
سيّد هارون شاه

فون: 2214154 فيکس: 2214321

جمعة المبارک ،26 ربيع الاول 1429 هـ ق،22 چيتر 2064، جلد نمبر 33
4 اپريل 2008ء ،16 حمل، 1387، شماره 92 ، بيعه 5 روپۍ

# زمونږ ستورے

مطيع الله روفي

لراو بر کي وی ته ستوری د سبا
ؤ روښانه پښتانه ستا په ځلا
يو ناڅاپه ته راولیدی د ستورود مداره
پښتنو باندی راپروته بلا
هر پښتون خو ستا په غم کي نن ژړيږی
د پښتون په کور ده جوړه واويلا
خدای دی در کړی جنتونه د قام ستوری
ستا چوپړ دی پښتنو کي بر ملا
څوک به ډکه کړی دا تشه پښتنو کي
خدايه وکړی مرحمت په پښتونخوا
ستا ستايلو کي الفاظ ما سره لږ دی
لکه کړی چي څوک يو څاڅکی سمندر نه را جلا
دا ناره کړی روفی د زړه له تله
اخی راشی چي پوره کړو نن د ستوری مدعا

# د سبا ستوري

محمد هاشم زماني

د ملی وحدت اسمان کې ستوري شه ته سم صفا
چې بل ستوري خوري نشي ستوري شه ته د سبا
توره شپه اوږده د غم په تیریدو ده
د سبا ستوري را خیژه زماني وائي ستا ماما
زه به نه یم دا دوه فرده به زما وي
کتابتون کې خوري جانه ستا زما

# د اسمان ستوري

عمر پاځون

ناڅاپه غږ شو چې افغان مړ شو
چا وی ، ادب مړ شو عرفان مړ شو
پښتو په دوارو لاسو مخ وواهه
ویل ،د پښتنو یو قهرمان مړ شو
واکپوهانو هلته اوښکی توی کړلی
ویل ، سیاست مړ شو سازمان مړ شو
چې پښتانه به ئې اتحاد ته بلل
د پښتون ولس څاروان مړ شو

پاځون تپوس وکړ چې څوک دی اشنا ؟
ویل دا ستوري د اسمان مړ شو

بسم الله وردګ

لکه شمع غوندې په اور سوزېږم
څوک مې نه پوښتي چې ولې زه ژړېږم
دا ځلاند ستورې ولاړ بیا اسمان ته
لکه واوره زه خو هر دم ولې کېږم
خوشحالي مې به نصیب نه شو ژوندون کې
دافسوس په سمندر کې اوس ډوبېږم
زه پښتون به ولې؟ نه ژاړم وردګه
شوم بې کسه بې نوا ځکه چغېږم

# د کبیر ستوري یاد کښې

شاهي سادات

بیا مې مرګ په کور میلمه شو دروازه، ئې ټکوله
بیا ناڅاپه په کور راغی راته ئې خونه رنګوله
ما ویل مرګه صبر وکړه چې دیدن د اشنا وکړم
مرګ ظالم په عجله د ورګړې راشرنګوله
مرګ ناڅاپه کور ته راغی او خندا ئې مانه ویوړه
تور وزرونه ئې خواره کړل توره شپه ئې خوروله
کبیر ستوري راګوزار شو لاړو پریوتو په خاورو
د غماز په کور اختر شو پښتونخوا ئې ژړوله
بیا به څوک اوښکې کړي وچې د سرتورو بورو میندو
بیا به څوک ورته په سر کړي لوپټې بیرته د خویندو
بیا به څوک د ابدالي ټوټې ټوټې شمله کړي ټوله
بیا به څوک دونیا ته ښائي دا ناري سوري د کونډو
بیا به څوک دا لرو بر پښتون په یو ټغر راټول کړي
شاهي څوک به بیا پیدا شي چې دوښمن کړي بیا په منډو

**Head Office**

**20-Islamla Club Bullding Khyber Bazar Peshawar**

**Daily Wahdat is a Pashto daily newspaper published in Peshawar, in the Khyber Pakhtunkhwa. It was founded in 1976 by Peer Sufaid Shah Hamdard**
**info@dailywahdat.com.pk**
**PH:091-2214154-2562239 USA:+15712751612 MOB:0332-9051440**
**ISLAMABAD:0333-5168131 KARACHI:0322-4098298 LAHORE:0333-9181608**